کابل

پوله پسې ګڼه (٤٢٧)

Feb. 18, 1957

2 - JUN 11 1957
Copy

دښاغلی حمزه

غو ښتنه

چه بې تا چا ته تیټ نشی ننګیالی ز ما ژو ندون کړه
زړه ز ما دې مسلمان وی تفکر مې د پښتون کړه
زه له وخته ګېله نګړم چه ښا دی ئې له ما و یوړه
خو کا روان د همتونو ، ته ز ما بېرته را ستون کړه
کوم سبا چه را روان دی چه د نن سره ګډ نشی
زما نن واخله پرون کړه او دنن په ځای پرون کړه
په تبجنه ما نه کښی د حالاتو ز بېر ګی اورم
ته حکمت ز ما د خضر اند ېشه د افلاطون کړه
خدایه ز یات کړی یو په لسه د پښتو د لیلی حسن
بیا ز ما مینه هم زیا ته یو په لسه تر مجنون کړه
را اعطا لګه د ګل کړه جمعیت په پر ېشانۍ کښی
چه حاصله ترې خنداوې خوښ مې هغه زړه چاودون کړه
په ګلشن ئی کړې بد لې دا ز ما واړه شډ لې
هر یو زړی د ملت مې تېغ په لاس کښی را زرغون کړه
زه دې وچ هډو کی شپیلم خو ملت می دی سلطان وی
دا ز ما د سخن سیو ری په معنی کښی هما یون کړه
چه احساس د کمترۍ مې شو د غیر له تهذیبو نو
دا چنجی ددق او سل مې د کالبوت ځنی بېرون کړه

(دالفت انتخاب)

(۲۶ کسال) (۲۳) گڼه



پنځلس و رځنی مصوره

اجتماعی ، ادبی ، او تاریخی مجله

دامتیاز خاوند پښتو ټولنه

د پښتو ټولنی مشر : گل پاچا «الفت»

مسئول مدیر محمّد دین "ژواك"

پته: د محمد جانخان واټ د پخوانی دلیك او اصول د ښوونځی ترڅنګه

د تیلفون لمبر (. . .)

ددې ګڼې لیکنې او لیکوال

د ۱۲۳۵ش کال د حوت(۱) د ۱۳۷۶ ق کال د رجب المرجب ۱۸ د ۱۹۵۷ ع کال د فروری ۱۸

ګڼه	لیکونکی	لیکنې	مخ
۱ -	ښاغلی سپین تمان:	د هوتکو په دوره کښې پښتو	(۱) پاڼه
۲ -	ښاغلی محمد سرور «رحمی»:	د غرب تمدن	(۱۰) «
۳ -	ښاغلی خان غازی کابلی: د ښاغلی سیفی ترجمه	ډیلی دپښتنو په عصر کښې	(۱۱) «
٤ -	ښاغلی عبدالغنی خان: د الفت انتخاب	زبرګ	۱۷ «
۵ -	دپیغلی فوزیه عصمتی په قلم:	اې مړاوی روحه	(۱۷) «
٦ -	پښتو کوونکی ښاغلی خواخوږی:	الحمراء	۱۹ «
۷ -	ښاغلی اتمان:	غوته اوړنګو	(۲۰) «
۸ -	محمد دین ژواک:	د استاد حمزه شینواری شاعری	۲۱ «
۹ -	د م - ح ساپی لیکنه:	د امریکا له متحده ممالکو سره اشناشی	(۲٦) «
۱۰ -	ښاغلی بختاتی:	ادبی انتقاد	(۲۸) «
۱۱ -	ښاغلی (س):	د خان عبدالصمد خان محاکمه	(۳۱) «

کتاب: مدون او لیکونګی محمد دین «ژواک»

نوت: څهرې اوه قطعی.

ښاغلی سپین ئمان

دهوتکو په دوره کښې پښتو

هره ژبه دلوړ والی، کښته والی، دښکلا او تیاری دوری لری، کله وی چه دشاهانو په مانیو کښې دتحسین اوچکچکو او «به به» افتخار مومی اوهرڅوك ئی په ویلو ویاړی، اوپه مرسته ئی لوړو مرتبوته رسیږی، دژبورولیکوالو پرسرئی سره زر لونل کیږی اوخولی ئی له هرراز قیمتدارومرغلرو څخه ډکیږی، دعیش او طرب بزم په دی تودوی، خو کله بیاوی چه خپل زامن ئی پوری خاندی اوپه ویلوئی شرمیږی، چا نه دخپل زړه حال پخپله ژبه نشی وبلای، ژبه ئی خوا ره او بی پالنی وی، ورو وروئی ښکلی اوخوازه لغتونه له منځه وزی ور کیږی، یائی نوری غالبی ژبی ترینه ځانته کشوی، دځانه وی ئی، څوپه پای کښې یوه اسکیرلی او تقریباً بی خاونده ژبه شی هیچیری ئی دسرپنا کولو ځای نه وی، په الوتی رنګ دبی وزلو ملنګانو په کوډ لو یادغرو اوسیدونکو په کیږ دیو کښې غلی شی اوځان دنورو ژبوله هجومه وساتی...

پښتو ژبی هم دالوړی ژوری لیدلی دی، کله دسوریانو دسرتاج وه، او کله د متها جمینو له تاړاکه دسلیمان غره ته ختله، خو ددی دژوند له مهمو دورو څخه دهوتکو دوره ده دهوتکو دوره د پښتو په ژوند کښې دومره اهمیت لری لکه دفارسی په ژوند کښې دغزنویانو دوره، په دی دوره کښې پښتو ډیرقوی اوباعلمه پالونکی پیدا کړی دی، شاعرانوئی په شاهی دربار کښې دناستی ځای موندلی او اشعارو ئی ښی ښی صلی وړی دی. دالاڅه چه پخپله شاهانو هم شعرونه ویل اودشاهی کورنیو ښځمنو هم دخپلی ژبی له ادبیاتو سره ډیره زیاته مینه ښکاروله اوخوازه خوازه اشعار به ئې بولل، په ارګ کښې به دشاه په حضور کښې ادبی مجلسونه کیدل اودپښتو ژبی په شاوخوا کښې به ئی څیړنی کولی اوفکرونه به ئې څرګندول، په پښتنو شاهانو کښې میرویس خان لمړی قائد دی چه دخپل قام دآزادی دمهم اقدام مشوره درحمان بابا سره کړی اودده بیتونه په نیك شګون نیسی اولکه ټول پښتانه چه رحمان بابا ته عقیده لری دی هم په مشکلو، سختو او ملی مسائلو کښې دهغه دیوان په احترام خلاصوی اودابیتونه وائی:

زه مکتوب غوندې پټه خوله ګویا یم — خاموشی زما تیری کا ترغوغا زما

ګشت دعشق په توده ځمکه امان چیرې؟ — سمندر بو یه چه زیست کا په صحرا زما

اوله هغه څخه دڅه مودې دپاره دخاموشی درس لولی او تر څه مدې خاموشی وروسته

بله ورځ په‌ملی جرګه کښی ده‌ئه رحمان بابا داسی دا قدام‌اجازه ورکوی :

چه‌اسمان ئی‌مخ‌پټ کړی په‌سحاب‌ؤ خدای و ما وته ښکاره کړ هغه‌لمربیا
چه رقیب را نه تړلی په ځنځیر ؤ خپل‌حبیب‌را باندی‌پرانیست هغه وربیا
په‌وصال ئې منت بار اوسه رحمانه په صدف کښې دخل نشته دګوهربیا

هومیرویس‌خان به‌ولې پښتونه توجه‌نه‌درلوده ځکه چه دپښتو دادب خوند او له پردیودانتقام حس ،دادواړه ده دخپلې ننګیالۍ مورنازوله غیزې دځانه سره ساتلی‌ؤ میرمن نازو لکه‌څنګه‌چه‌دمیلمنوپه‌ساتنه‌اودعلیم‌په‌شرنه مشهوره وه همداشان‌دپښتوپوه نومیالۍ اودپره لوړ فکره‌شاعره‌ملله کیده . د تبر اوولس خد متو نه ئې فکر اً او نظر اً پراوزه اخستی‌ؤ مګر دپښتو دادب په قافله کښې هم‌لمړی‌جرس ددې‌ؤ‌چه‌سحر ګه به ئی ددشت دګلوسره رازونیاز کاوه اودژوندون دفلسفې‌زغبزغه به ئې شرنګوله .

مثلاً‌په‌لاندې رباعی کښی ئې دژوند دخوش‌بینۍ او بدبینۍ فلسفه څنګه ښه‌ځای کړې ده چه‌وائی :

سحر ګه ؤد نرګس‌لیمه لانده ځاځکی ځاځکی‌ئې له‌سترګو ځخیده
ماویل‌څه‌دې‌ښکلی ګله‌ولی‌ژاړې ده ویل‌ژوندمې دی‌یوه خوله‌خندیده

* * * *

بیا چه له‌همداسې موراوپلار څخه زوی پیداشی اودپلار ځای‌ونیسی نو به څنګه پښتو سره مینه‌نه‌لری ؟ کوم وخت‌چه میرویس‌خان وفات شو (۱۱۲۷ه)اوپه (۱۱۲۹ه) عبد العزیز دمیرویس خان ورور مړشو دده زلمی زوی شاه‌محمود په قندهار کښې پاچاشو اوپه (۱۱۳۵ه) خپل زلمی ورور شاه حسین‌پاچا کړ چه‌له قندهاره تر فراه بیا تر غزنی پورې‌ئی حکمرانی کوله.دی دپښتوژبې مین شهزاده ؤ‌هم پخپله شاعر اوهم‌ئی نوروشاعرانو اودپښتو لیکونکوته په‌درنده ستر ګه کتل .

ادبی‌جرګه: شاه‌حسین‌چه‌دپاچهۍ‌واګې‌په‌لاس کښې‌ونیولې په خپل ځان ئی پښتانه علماپوهان‌اوشاعران‌راغونډ کړه‌اودوی‌سره‌به‌ئې‌علمی اوادبی مجلسونه اوجرګې کولی پخپله به ئې اشعار ویل اودنورو اشعاربه ئې اورول‌اوپه ځاهی در بار کښی یوه‌ادبی جرګه جوړه کړه چه‌دمحمدهوتك دونیاپه قرار په‌هفته کښې‌یوه ورځ دهمدې جرګې دپاره تاکلی‌وه، دی لیکی : « . . . پادشاه عالم پناه په ارګ کښی د قندهار هغه قصر چه‌نارنج باله شی هلته په هفته یوه ورځ دربار کا په کتب خانه کښې او په مجلس کښې علماء جمع کیږی‌او شعرا او فضلا تولوی

ژه محمد هوتك كاتب ددې كتاب هم په دې مجلس كښې يم، او دپادشاه ظل الله اشعار او ابيات په قلم كاږم او كتاب د ديوان ئې مرتب شوی دی كله په پښتو اشعار وائی كله فارسی ژبی ته هم ميل كا او استاد العلماء ملا يار محمد ته ئې قرائت كا چه سهو او سقم ځنی زائل كا او دپادشاه په اشعارو كښې لږ سهو ليده شی او علمائی ټول په بلاغت او فصاحت قائل دی او سماع ته مايل..»

له دې څخه څرګند ېږی چه هغه وخت دپښتو دپرمخ تګ دپاره يو صحيح پروګرام ترتيب شوی ؤ او عملی كيده او دهمهغه پروګرام په اثر ادبی جرګه تشكيل شوی وه چه په ژبه كښې ئې ښه ښه كټور آثار پيدا كړه چه متاسفانه ډيره برخه ئې ورك او لږ حصه ئې ترمونږ پوری رارسيدلی ده څنګه چه پښتون زلمی شاه حسين دخپل ننګيالی پلار پرپله سم رهی ؤ او د هغه لوړې نظريې ئې تعقيبولې بلكه دادبی جرګی په تاسيسو لوئې د پښتو په خدمت ترپلاريو قدم پرمخ اخستی ؤ نو دده فاضلی او عالمې خور ميرمن زينبې هم په لوړ همت دخپلی منورې مور رويه تعقيبوله او د هغی ادبی ډيوه ئې نه پر ېښودله چه خاموشه اومړه شی، ډيرسوځند او خوازه شعرونه ئې ويل او كتابونه ئې ليكل مګر سره له دې مشغوليته لكه مورچه ئې دملی قايد ميرويس خان سره په اكثر و نظريو او مهماتو كښې شريكه وه او مشوره به ئې وركوله همداشان دې ميرمنې دخپل زلمی ورور سره مرسته درلوده، دپټې خزانی ليكونكی داخبره ښه ټينګوی وائی: «...بی بی زينبه ډيره هوښياره او په مهماتو دامورو عالمه ښځه ده او دپادشاه جم جاه شاه حسين په امورو كښې تدبير كا، او هر كله په رای صائب مشكلات دامورو حل كا او پادشاه دزمان ئې په خبر و عمل كا او نصايح ئې آوری.»

او هم لكه ددې ميرمنې پښتنې مورچه دا په پښتنی روح روزله، دې هم دشاهی كورنۍ نجونې او راتلونكی ميرمنی تربيه كولې، پښتو ليك او لوست ئې ورښود، محمد هوتك ليكی: «...او مخدراتو دحرم دپادشاه ته درس و كښل او لوستل ورښيی».

د ادبی جرګی غړی:

په دې ادبی جرګه كښې چه پخپله شاه ئې مشرا و رئيس ؤ دهغه عصر خورا لوړ لوړ پوهان او خطيبان او شاعران شامل و، چه د ځينی اعضا ؤ نو مونه چه تر مونږ را رسيدلی دی دادی:

۱، رئيس: زلمی پاچا شاه حسين هوتك (۱۱۱٤هـ - ۱۱۵۱هـ) چه ښه عالم او شاعر هم ؤ.

۲، لوی مبصر: دجرګی لوی مبصر استاد العلماء ملا يار محمد اخوند ؤ چه لوی عالم او دپښتو ښه اديب او دشاه حسين استاد ؤ.

۳، دجرگی منشی: دجرگی منشی فاضل لیکوال محمد هوتك دپټې خزانی لیکونکی ؤ چه دداؤد هوتك زوی او دقادرخان لمسی دی په اصل د مرغی او نیکه ئی سیوری ته راغی اوپلارئی بیادقندهار په کوکران کښې استوګنه کوله، درجب المرجب په ۱۳ (۱۰۸٤ه) کال په کوکران کښې زیږیدلی دی، ده به دجرګی جریانات لیکل اودپاچا اونورو شاعرانو اثاراواشعار به ئی راغونډول چه دهمدې جرګې په برکت اومرسته ئې وکولی شول چه پټه خزانه ولیکی اود پښتو دادب عمرئی دولس سوو کالوته ورساوه. ده نور کتابونه هم لیکلی دی چه پخپل ځای کښی به ذکرشی. محمدعلاوه پرنویسندګی پوخ شاعرهم ؤ ښه ښه خوازه اوپاخه شعرونه به ئی ویل.

٤، اعضا، الف: لوی عالم دقندهار دجامع امام ملامحمد یونس توخی ددی جرګی لمړی عضودی چه د ملامحمداکبر زوی اودډیرو علومو مدرس ؤ محمد هوتك ئی داسی ستایی:

«... بل لوی عالم ددی عصرچه دپادشاه ظل الله ترظل لاندی ژوند کاد قندهار دجامع امام ملامحمد یونس توخی دی چه دملامحمداکبر فرزند دی اودعلومو تدریس کا».

ب: ددی جرګې بل غړی چه دپټې خزانې لیکونکی «مدارالمهام اوصدرالافاضل او دشاه ظل الله کیڼ لاس» بللی دی اووائی چه دپاچادزوی محمدنامی استادؤ ملازعفران تره کی دی.

ملازعفران تره کی د پښتو فی البدیهه ویونکی شاعر او هم په حکمت، ریاضی او طب کښی لوی استاذ ؤ.

ج: بل غړی ئی پښتون سالار بهادرخان ؤ چه د هغه عصرمشهور سالار او زړه وو پښتون ؤ محمد هوتك وائی: «د پادشاه ظل الله بازودی شاه حسین به «ورور» خطاب ورته کاوه او عوامو «امیرالامرا» باله، له دې څخه ښکاری چه د هری څانګی یویو نماینده په دې جرګه کښی ؤ چه بهادرخان ګویا حربی نماینده ؤ یا په بل عبارت په هره څانګه کښې چه به څوك آمر مقرر کیده هر و مرو به عالم ؤ. بهادرخان علاوه پرسخا او میړانه ښه شاعر هم ؤ هر کله چه به له جنګه فاتح راغی پوهان او علماء به ئی میلمانه کول او پخپل کور کښی به ئې هم ادبی مجلسونه درلودل.

د: دادبی جرګې بل عضو فصیح دوران ریدی خان مهمند ؤ چه دغیاث خان زوی او د مسعود خان نمسی ؤ او د قندهاردمهمندو دکلی ؤ چه هغه کلی دده دنیکه

په نامه یادیږی . ریدی یو کتاب « محمود نامه » لیکلی ؤ چه شاه حسین زر طلاوی صله ور کړه او په هغه کښی داصفهان او قندهار د تولو جنګو تفصیل ؤ .

ه : بل غړی ئې نصیرالدین اندړ دی چه دمحمد زمان خان زوی ؤ په اصل دغزنی او دشاه حسین په وختو کښې قندهار ته راغی او د پاچا په حضور کښی ئې د ډېر عزت وموند ښه شاعر ؤ تخلص ئی « نصر » کاوه داشعار ودیوان ئې هم در لود .

په دی مجلس کښی به ډېر غړی ؤ مګر له بده مرغه دبل کوم عالم نوم نه دی ر ارسیدلی شاید ډیر عالمان او شاعران به ؤ مثلاً ملا نور محمد غلجی چه د ملی قائد میرویس خان په کاله کښی ئې ښځو او کوچنیو نجونو ته درس وایه معلم ؤ او یو کتاب ئی دنافع المسلمین په نامه لیکلی او شاه حسین ته ئی وړاندې کړی دی یا نور داسی .

دهوتکو په دوره کښی دپښتو اثار:

دهوتکو په دوره کښی دپښتو ډېر اثار منځ ته راوتلی دی چه لویه برخه ئې ورکه ده اولږ برخه ئی ترمونږ پوری رارسیدلی ده دلته به ئی محض نومونه راوړو :

۱ : خو را ډېر مهم او دقدر وړ کتاب چه دهوتکو په دوره کښی لیکل شوی دی پټه خزانه ده چه په دې خزانی کښی مونږ د (۱۳۰) هجری پښتو شعر مومو او د پښتو دپخوانیو ورکو اثارو نمونه مولکه « لرغونی پښتانه » د « سالو وزمه » د « خدای مینه » او نور په ستر ګه کیږی دا کتاب په (۱۱٤۱ ه) کال فاضل محمد هوتك داد بی جرګی منشی لیکلی دی او د لیکلو باعث ئې داسی بیانوی :

« ..زه چه محمد هوتك یم او په اصل پښتون په قندهار کښی او سم له ډېره ده چه په ویلو ددا سی وینا ؤ بوخت یم او دشپی او د ورځی می همدغه کار دی او دا ډېر وختونه تیر شول چه ماغوښتل چه زه دپښتنو شاعرانو تذکره و کاږم او ددوی احوال سره راټول مګر زما نی ماته فراغ نه را کا او دا هیله می په زړه کښی وچه شوه... نو زما زړه فارغ شوله اندوهه او قلم مې راواخست هغه وخت چه زما په ارادی خبر شو زمونږ دپښتونخوا دستر ګو تور امام المسلمین ... شاه حسین الطاف ئی ښکاره کا چه دا خپله اراده پوره کاندم او دپښتنو شاعرانو حال سره راټول کاندم ځکه چه زمونږ پادشاه او دښالم خیلو د زړه سر شاه حسین خلد الله ملکه و سلطنة پخپله هم د ښی وینا خاوند او د پښتنو دشعر شو قمند دی نوما وغوښتل چه ژر دا کتاب و کښلی شی او دپښتنو شاعرانو احوال ټول کړی شی .»

دا کتاب دری خزانی لری، یوه دپخوانی شاعرانو حالات ځرګندوی، دوهمه خزانه دمعاصرینو یعنی دهوتکو ددوری شاعران اوعلما ښئی، دریمه خزانه دمیرمنو حالات دی ددی کتاب مفصل بیان څنګه چه پخوا بیان شوی دی ځکه نومو نیز تر تیر یېزو.

۲: دهوتکو ددوری دوهم کتاب «افضل الطرایق» دی چه ملاپیر محمد میاجی په اخلاقو کښی لیکلی دی دا کتاب ورك دی یوازی نوم ئی پټی خزانی راوړی دی

۳: بل کتاب «الفرایض فی رد الروافض» چه دا هم ملاپیر محمد میاجی په پښتو نظم کړی دی.

٤: بل کتاب د «شهاو ګلان» قصه ده چه نوم ئی «قصص العاشقین» دی او بابو جان بابی په پښتو نظم کړی دی.

٥: بل کتاب «نافع المسلمین» دی چه ملا نورمحمد غلجی لیکلی دی او یوه قلمی نسخه ئی مادوه کاله دمخه دپښتو ټولنی کتابخانې ته وړاندې کړی وه او اوس هم شته

٦: بل کتاب «مسائل ارکان خمسه» چه په فقه کښی افضل العلما ملا یارمحمد هوتك دادبی جرګی لوی مبصر او دشاه حسین استاد لیکلی دی.

۷: بل کتاب «جامع فرایض» چه ملامحمدیونس دقندهار دجامع امام تالیف کړی دی.

۸: بل رنګین اثر «ګلدستهٔ زعفرانی» ده چه د پښتو عالم اومرتجل شاعر ملا زعفران ترکی په حکمت او طب کښې لیکلی دی. دا کتاب دپټې خزانی لیکونکی لیدلی او مطالعه کړی دی، مګر متأسفانه ورك دی.

۹: بل ښه او دقدر وړ اثر «محمود نامه» ده چه ریدی خان مهمند په نظم لیکلی وه او کوم جنګونه چه شاه محمود یا ملی قائد میرویس خان کړی وه له سره تر پایه پکښی مفصل راغلی وه، اوشاه حسین دهغه کتاب په مقابل کښی ریدی خان ته زرطلاوی صله ورکړه. دا کتاب په خوږمثنوی لیکل شوی دی او د پښتو ژبی یو غوره ادبی اثر باله کیږی. یو حکایت ئی په پټه خزانه کښی راغلی مګر نور کتاب ورك دی. دومره معلومیږی چه کتاب څلور زره بیتونه لرل.

۱۰: بل کتاب «خلاصة الفصاحة» دی چه دپټې خزانې فاضل لیکونکی محمد هوتك د فصاحة دعلومو په بیان کښې لیکلی دی او وائی چه: «... په دغه کتاب می ټول علوم دفصاحت په پښتو دخپلو پښتنو طالبانو دپاره خلاصه کړل.»

۱۱: دپټې خزانې دمؤلف بل کتاب «خلاصة الطب» دی چه د طبابت او علاج په بیان کښې لیکل شوی دی او مؤلف په ۱۱۳۹ هجری کال دشاه حسین حضور ته

وراندی کړ او سل طلاوی ئی صله وموند له .

۱۲: بل کتاب د محمد هوتک « دیوان » دی چه دی وائی: « ماله یو دیوان د اشعارو هم شته چه په دیوخت کښې مردف او مدون شوی دی اوغز لونه اوقصائد او رباعی لری ».

۱۳: بل د« شاه حسین دپښتو دیوان » دی چه داهم مرتب او مردف شوی ؤ مگر متأسفانه ورك دی .

۱٤: د پښتو بل خو ز اثر دمیرمن نازو د میر و یس خان د مور د یو ان د ی چه دوه زره بیتونه پکښې وه.

د هوتکو په دوره کښې د پښتونور شاعران

د هوتکو په دوره کښې علاوه د ادبی جرگی په اعضاو نور پاخه یا خه شاعران هم وه چه نومونه ئې د ادی :

۱ : پښتون سپه سالار سیدال خان ناصر چه دابدال خان زوی او بابری زی ناصر او دملی قائد میرویس خان اؤ بیا د شاه محمود په وختو کښې حربی جنرال او مشاور و، د پښتو ژبې د شعر په میدان کښې هم پیاوړی پهلوان او شاعر و .

گویا دې پښتون سپه سالار د توري سره علم او قلم هم د رلود . اشعار ئې په پټه خزانه کښې ذکر شوی دی .

۲: د هوتکو د دوري بل نامتو شاعر ملا پیر محمد میاجی د ملا سرور احمد زوی ؤ او دملی قائد تینگ ملگری و، او بیا د شاه محمود سره اصفهان ته ولاړ او د روم علماو، ده ته د« پیرافغان» لقب ور کړ، ده دوه کتابه لیکلی چه پور ته ذکرشوه .

۳ : بل شاعر بابو جان بابی د کرم خان زوی و، په انغر کښې اوسیده، د ملی قائد ملگری او د هغه له خوا پر کلات حاکم و، ۱۱۲۹ ه کال ئې دشهاو گلان قصه په پښتو نظم کړه .

٤: بل ښه شاعر د اؤد هوتک و، چه د پټې خزانې د لیکونکی پلار دی داهم د میرویس خان له خوا سپه سالار مقرر شوی و، په ۱۱۳٦ هجری کال وفات او په کوکران کښې ښخ شو .

٥: بل دپښتو ښه لیکونکی او شاعر ملا نور محمد غلجی د ملا یار محمد زوی و . داعالم اوشاعر پرملی قائد میرویس خان دیر گران و، او د شاهی کورنۍ د نجو نو او

ښځو معلم و ، او هغو مستوراتو نه به ئې لوست کا و ده « نافع المسلمین » لیکلی چه د مخه ئې ذکر وشو .

دهوتکو په دوره کښې ښځې شاعرانې

د هوتکو دورې علاوه پردې چه پښتو نه ښه ښه پوهان شاعران روزلی دی پښتنو میرمنو نه ئې هم وده ورکړی د ماو په دې لار کښې ئې د میرمنو له رقیقو او سو ځو نکو احساساتو څخه مرسته غوښتې ده او خورا نو موړې او پوهې میرمنې ئې موندلې او ملګرې کړې دی چه دلته ئې د نومونو تذکار کوو .

میرمن نازو :

میرمن نازو دملی قائد میرویس خان مور وه چه په پټه خزانه کښې ئې شرح حال او اشعار راوړه شوی دی دامیرمن په (۱۰۶۱ھ) کال د قلات او قندهار ترمنځ دتازی رباط ته نژدې زیبزدلې ده د سلطان ملخی توخی لور وه چه د غزنی څخه بیا تر جلد که پورې داقو امو مشرو ، او په استقلال ئې حکومت کاوه .

نازو په کوچنیوالی له پښتنو میرمنو او سپین ږیرو علماؤ څخه لوست کړی و ، او مېړه مخې ښځه وه چه نارینه ئې میرانی او شجاعت او سخاوت ته حیران وه .

دپټې خزانې لیکونکی ددې میرمنې حالات داسې بیا نوی چه څه ئې دا دی :

روایت دی له ثقه راویانو! چه سلطان ملخی وسور غره ته نژدی په جنګ کښې مړو ، او حاجی عادل چه د نازو ورور و ، دپلار په انتقام جنګ ته ولاړ کلا او کورئې نازو ته پریښود او هغه وخت نازو توره په ملا کړه او د جنګیالو ځوانانو سره ئې کور او کلا له تاړا که د دښمنانو وساتل . ما ته خپل پلار حکایت کا چه نازو انا په میلمستیا او د غریبانو مسافرانو په پالنه معروفه وه . او هرو خت چه به په ژمی دمسافرانو قافلی راغلی د نازو پر کلا ئې اړول په سوو سوو میلمانه به ئې روزل او د وی ته ئې دودی ورکوله چاچه به کالی نه درلودل لباس ئې ورکاوه او د سخاوت نوم ئې له خیبره تر کوسانه خپور شو ... »

پدی شان د میرمن نازو ازدواج له ښالم خان سره چه د میرویس خان پلار ؤ او د دې دزامنو نو مونه راوړی بیا ددې خوب چه د ملی قائد د زیبزید و په شپه ئې لیدلی ؤ بیا نوی وروسته نو ددې د شاعرۍ په باره کښې داسې لیکی : « زما پلار هسې وو یل چه نازو انا علاوه

پرسخاوت اوشجاعت اوعبادت مسي ارتينه وه دخدای تعالی شخه په مناجات ئي ډيرا شعار ويل اوبو ديوان ئي درلو د چه دوه زره بيتونه پکښې ؤ او هلته ئي ښه نکات ا د ا کړی ؤ اوداسی ئي ويلی چه نار ينه ئي هم نسی ويلی »

۲ ميرمن زينبه : ميرمن زينبه دميرويس خان لوروه چه په کوچنی والی ئي په شاهی حرم کښې ابتدائی علوم شروع کړل دقرآن کريم نرلو ستوورو سته ئي دفقی کتابو نه هم ولوستل اودفارسی مشهور کتب ئي مطالعه کړه د دې مير منی استاذ ملا نور محمد غلجی ؤ چه دمخه موذ کر کړ محمدهوتك ليکی: « ... دادرشهوار دصدف عصمت ښه ښه شعرونه هم وائی اودموزو نانواوشاعرانو قدر کا، دواوين دشعراؤهر کله لولی اومضامين شيرين ئی کام شرين کا. عمرپه عبادت دخدای اوتلاوت دقرآن شريف تيروی» ميرمن زينبه ديښتوزبردسته شاعره وه خورا احساساتی اشعار ئي ويل دخپل ځوانيمرګ ورور شاه محمودپه مرګ ئي خورا سوځونکی اشعار اوله پښتنی احساساتو ډکه مرثيه ويلی ده چه په پټه خزانه اودآريانا دمجلی په اومه ګڼه کښې نشر شويده .

دښاغلی محمد سرور رحیمی،

پلټنه اولیکنه:

د غرب تمدن

۲ برخه

دقرون اولی اجتماعی، سیاسی او اقتصادی اوضاع

ارسطو په ۳۸٤ ق م کښې زیږېدلی دی او په ۳۲۲ ق م کښې ئې د مرګ تاریخ فید شوی دی ارسطو د افلاطون رشید شاګرد او دپخوانۍ دنیا ډېر ذکی عالم دی. د ارسطو نظریه داده چه جامعه دخلکو د صیانت او حفاظت د پاره تاسیسیږی او دجامعې تاسیس دارسطو په نظریه یوه طبیعی حادثه ده. ځکه انسان یو اجتماعی مخلوق دی چه بېله اجتماع ژوند نشی کولای یعنی انسان بې له یوی سیاسی او اجتماعی جامعې ژوندون نشی کولای خو که دانه وی نو انسان بایدیو مافوق الطبیعه مخلوق شی چه په دې صورت دی په غیر اجتماعی ژوند کولو سره قادر ېدای شی او څرنګه چه انسان مافوق الطبیعه مخلوق نه دی نو بې له جامعې د ده ژوند ناممکن دی. ارسطو وائی چه: دڅو نفرو یوځای کیدل کلی جوړوی او دڅو کلیو دیوځای کیدلو څخه ریاست جوړ ېږی او په دې شان سره جامعه په یوه طبیعی ډول جوړېدلای شی او یوازی خدای «ج» دجامعوی ژوند څخه مستغنی دی. انسانان دافرادو دعامه ګټی دپر مخ بېولو دپاره تعاون او تساند، حفاظت او صیانت ته متحد کیږی او سیاسی جوامع تشکیلوی. د ارسطو د نظریې سره سم انسان د نیکۍ د پاره پیدا شوی دی او که انسان همدغه مرام و سر ته ونه رسوی نو یو څیرونکی حیوان او ژوی تر ده ډېر غوره دی. ارسطو وائی چه: تبعه هغه دی چه په اداری او عدلی چارو کښې برخه ولری او یو تبعه هغه وخت ددی حقو قو مستحق کیږی چه هغه د جامعې د بهبودۍ او ښه والی د پاره کار کوی. ارسطو وائی چه: عدم مساوات بیره او ترس، تبعیضات او امتیازات انقلاب منځ ته راولی او د انقلاب لوی عوامل دی ارسطو دملکیت طرفدار دی او فامیل ئی منلی. مریی توب ته په ښه سترګه ګوری او مریان د تولیداتو ژوندی عناصر او عوامل ګڼی. د ارسطو په نظریه ځنی خلك رهنماوی او او ځنی ورهنمائۍ ته محتاج نو په دی حیث ارسطو ته غلامی یو طبیعی حادثه ده ولی چه هغه څوك چه رهنماته محتاج وی باید درهنما له خوائې رهنمائی وشی. او داچه هغه کسان چه رهنمائۍ ته احتیاج وی ایا کوم وخت رهنما کیدلای شی دا هم داشتباه ځای دی. داچه ارسطو غلامی یوه طبیعی حادثه بللی ده د لیکونکی په عقیده داد ارسطو دهغو سهوو او خطاوو څخه ده چه د محیط څخه ئی الهام اخیستی دی څرنګه چه د ارسطو په وخت کی غلامی مروجه وه او غلامانو هیڅ کله د خپلی طبقی څخه بلی کومی طبقی ته لکه اشراف یا داډول

(پاته په ۱۱ مخ کښې)

لیکونکی: ښاغلی خان غازی کابلی :

مترجم: ښاغلی سیفی

ډیلی د پښتنو په عصر کشی

د ډیلی ښار څوواره وران شوی او بېرته ودان شوی دی، پخوا پخوا ډیلی څه حیثیت او مقام درلود؟ او وروسته دراجپوتو د ډیلی څه شان او شوکت و؟ ددې پوښتنو جوابونه اسان نه ؤ «قطب او مهرولی» او د «مالویه نگر» په خوا کښی «رای پتهورا» دهغو کنډوالو څخه په ښه ډول څرگندېدلی شی چه نن وران پراته دی. هر کله چه دراجپوتو داقتدار ډېوه مړه شوه، نو دوی نه وروسته د دوی پښتنو ورونو او یا په بل عبارت نو یو آریائیانو ددوی په ځای داقتدار کمبله وغوړوله او یو بل ډیلی میدان ته راووت داډیلی چه غوریانو پښتنو ودان کړی دی، ددې ډیلی ودانوونکی د پښتنو دوه سالاران او وفادار ملگری ؤ چه غالباً ددغه ډیلی نوم به «مهرولی» او «قطب» وی چه یا به دمهرولی او قطب دشا او خوا کنډوالی ددې کار غمازی کوی او یا به دنظام الدین اولیا زړې ودانۍ او کنډوالې، ددوی دعروج اوزوال افسانې نندار چیانو او سیلانیانو ته وړاندی کوی.

د چراغ دهلی «تغلق آباد» او د «زړې کلا» دېوالونه او دشیرشاه دودانیو کنډوالی دقال په ژبه نه بلکه دحال په ژبه دا ناري وهی چه زمونږ ودانوونکی هغه ننگیالی پښتانه ؤ چه د جگو غرو په څوکو کښی لوی شوی و واودناز اونزاکت سره ئې هیڅ تعلق نه درلود بلکه دوی دډېر رعب او هیبت او دبدبې او سنگین عزم او پخې ارادې خاوندان و، اوله همدې کبله دوی دخپلوو دانیو

(د ۱۰ مخ پاتی)

نورو ته انتقال نشو ای کولای نو ده غلامی یوه طبیعی حادثه وبلله او غلطه ده. باید یوه ذکی فیلسوف هغه هم لکه ارسطو داسی نظریه نوای ورکړی. دارسطو دې نظریې د اتلسم قرن و استعمار ته یو نا معقوله اساس ورکړ او پر هغه اساس باندی دپوست، درنگ یو تبعیض راووت. داستعمار خاوندانو به ویل چه سپین پوستی رهنمادی او تور پوستی اوژړ پوستی رهنمائۍ ته محتاج دی نو باید دوی مستعمره وی او رهنمائی ئې وشی. حتی دا غلطه مفکوره اوس هم مروجه ده، مثلا که یو مملکت استقلال و غواړی نو هغه بل ورته وائی چه د امملکت لا تراوسه پر پښونه دی دریدلی او دخپل مملکت زمام په لاس کښی نشی اخیستلای او په بل عبارت ورهنمائۍ اولار ښودنی ته محتاج دی.

ارسطو نظریه ورکړی ده چه که په یو مملکت کښې حاکمه قوه او ټول اختیارات د یوه سړی په لاس کی وی او هغه دجامعی دبهبودۍ دپاره حکومت کوی داډول حکومت ته ارسطو شاهی حکومت وائی. او که دا حاکمه قوه د یوه شخص په واک کښی وی او هغه شخص دخپلی بهبودۍ او دخپل مفاد او منفعت دپاره حکومت کوی ارسطو داسی حکومت مستبده بولی.

بنسټ په تیز واود جګو غرونو
په څو کو اینبود لی دی، دې
ودانیو د سپلابو نو او د جمنا
دطوفانو نو او سپلا بو نو هیڅ
پروانه درلوده ؛ داو دانی چه
نن ئې تاسی په بر باد اوبدحال
ورانی ویجاړی وینیء د دې
کار سبب سماوی او ارضی
حادثې او پیښی نه دی بلکه
دابنګلی ځایونه دپښتنو ددښمنانو
اوحریفانو چنګیز انو مغلو او
انګریزانو دلاسه برباد ی او
ورانی شوی دی . اوس دا
ملک آزاد شویدی او دآزاد
هند وستان اوافغانستان او
پښتونستان د دوستانه تعلقاتو
څخه دا هیله کیدلی شی چه
دپښتون د عظمت او برم دا
تاریخی نخښی به محفوظی
وساتلی شی .

دپرپخوانی ښکلی سمسور ډیلی

دد پر پخوانی اوښکلی سمسور
ډیلی نوم سهتنا پور ښودل شوی
دی، وائی دابنار په هغه ځای
کښی ودان ؤ په کوم ځای
چه نن «پرانا قلعه» زړه کلا
ودانه ده لیکن په دغه ځای
کښی ددغه ښار هیڅ قسم نخښه
اوپته نشی موندلی ، له دی کبله
مو نږ په یقینی ډول دا
نه شو ویلی چه په ۱۴۵۰
قبل المسیح کال کښی د «کورؤن»
دا «ستهناپور» ښار په کوم
ځای کښی ودان و و .
هر کله چه محمود غزنوی
په هند وستان یرغل وکړ نو
دوی له یوې خواد ګجرات،
سوراشتر او سمندر په غاړه
ترسومنات پوری اوله بلی
خوادفتح او نصرت او بریالی توب
د ډولونو په انګازو کښی
د لاهور نه تر «قنوج» «متهرا»
ورسید ل. که څه هم دمحمود د-
غزنوی نه وروسته دده په ځای
دناستوخلکو څخه سلطان ابراهیم-
غازی په هند وستان کښی تر
ډیرو لیرو لیرو ځایوپوری خپل
ځان ورساوه مګر دغزنویانو
په یرغلو نو کښی په هیڅ کوم
یوځای کښی دډیلی یا سهتناپور
په نوم د کوم یوښار نوم نه دی
ذکر شوی ممکنه ده چه په
دغه وخت کښی بیا ډیلی وجود
نه درلود او یا به ئې په دغه
وخت کښی د توجه وړ ښار شهرت
او حیثیت نه درلود. په هر
حال ددې موجوده «ډیلی» اصل
نوم «دهلی» نه بلکه «دلی» دی
او ددی نوم وجه دا ښودل
شوېده چه په هندی ژبه کښی
«دل» دځمکی د سطحی څخه
جګ اولوړ ځای ته ویلی شی
اوله دې کبله چه د «اندر پرست
- اوسهتناپور» ښار و نه په جګو
ځایو ودان شوی وو نو په جګو
ځایو د ودانو شویو ښا و په
نومونو یادیږی .

پرتهی راج

درای پتهوراډیلی

په کوم ډیلی چه د غوریانو
پښتنو له خوا حملې شویدی
او د کوم ډیلی دتخت او تاج دپاره
چه د شهاب الدین محمدغوری
او درای پتهوراپر «تهوی راج»
په منځ کښی خونړی جنګونه
شویدی - دغه ډیلی د «تنورا»
خاندان راجه «انګ پال» ودان
کړی ؤ اویه ۱۱۵۱ ع کال
کښی دا جمیر دچوهان رئیس
دسال دیو بایسال دیو، دتنور
د خاندان سره جنګونه و شول
چه ددغو جنګونو خاتمه دروغی

په دې شرط وشوه چه باید د تنورا
درا جالور د چوهان د خاندان
کوم شازاده ته ور کړی شی او له
دې څخه چه کوم هلك پیدا شی
هغه دی د ډیلی پاچا و ګڼلی شی
د سال د یو د پر تهوی راج
نیکه ؤ او پرتهی راج هغه بهادر
راجا ؤ چه لال کوټ ئې ودان
کړی ؤ، چه د دغی ودانۍ کنډرونه
د مالویه نګر او د قطب
په شا او خوا کی موندل کېږی.
د پښتنو باچا فیروز شاه تغلق
له کوم یو ځای څخه د اشوك
مینار را پیدا کړی او په خپله
«کوټله» کښی ئې درولی ؤ چه
په دغه مینار باندی د ۱۱٦٤ ع
کال یوه کتیبه ده چه په دغه
کتیبه د سال د یو د عروج کیسه
لیکل شوېده.

د غوری پښتنو ډیلی قطب او مهرولی

د افغانستان خاوره هغه پاکه
خاوره ده چه له دغی خاوری
څخه د (آرین) قبیلې د عالم
په اکنافو او د نړۍ په مختلفو
برخو کښی خپرې شولې او روسته
چه کوم خلك له دغی خاوری
څخه هندوستان ته راغلل او په
دې خاوره کښی د وطن په حیث
مېشت او ټیکو شول هغه خلك
د افغان او یا پښتون په نوم یاد ېدل.
شهاب الدین غوری چه په
«محمد بن سام» نوم هم یاد ېږی
او دده سپه سالار قطب الدین
او نور هغه خلك چه دده په ځای
ناست وو ټول غوری افغانان یعنی
د غور پښتانه وو او دې عهد ته په ځای
د دې چه (عهد خاندان غلامان)
وویل شی د پښتنو د عهد او دوری
ویل ډېر مناسب او په ځای دی.
په کوم وخت کښی چه غوریانو
به رای پتهورا بری وموندنو په
دغه وخت کښې د رای پتهورا
ډیلی د موجوده مهرولی «قطب»
په شا او خوا کښی خپور پروت و،
د غوریانو لومړی پاچا
شهاب الدین محمد بن سام د خپل دغه
بریالی توب او فتح په یادګار
«قوت الاسلام» نومی یو مسجد
او د دغه مسجد په شمالی اړخ
کښی یوه دروازه ودانه کړه.
هر کله چه قطب الدین په
۱۲۰۵ ع کال کښی په تخت
کښېناست نو ده د قطب مینار نومی
یوه ډېره جګه او نا آشنا مناره
ودانه کړه - د قطب الدین قبر
د لاهور په انار کلی نومی ځای
کښی دا یبك روډ په یوه تنګه
کوڅه کښی دی، د غه ځای
مسلمانانو په یو هندو خرڅ
کړی وو لیکن د غه هندو په
توره ځمکه کورودان کړ او د غه
قبر ئی محفوظ او په ځای پرې ښود
چه اوس هم د غه قبر د د غه
هندو د کور د یو د ېوال په څنګ
کښی موجود دی. د غور پښتنو
د «غیاث پور» په نوم هم یو ډیلی
ودان کړی و، چه د د غه ښار
نخښی او آثار د «نظام الدین
کی بستی» نومی ځای یعنی
د نظام الدین اولیا د قبرستان
په شا او خوا کښی موندل کیږی
په دې ورځو کښی په کوم ځای
چه مولانا «اخلاق» د علوم شرقیه
کوم پوهنځی افتتاح کړی دی
د غه عمارت د شاه بلبن غیاث پور
عمارت دی. له دې خاندان څخه
د وولس پاچاهان یو په بل پسی
د هند په تخت کښېناستلی دی
چه په د غو کښی
شمس الدین التمش - رضیه سلطانه
، ناصر الدین محمود -
غیاث الدین بلبن - ډېر شهرت لری.
د رضیه سلطانه قبر

د «بازار سیتارام» په بلبن خانه نومی ځای کښی دی او د شمس الدین التمش قبر د «قوت الاسلام» نومی مسجد په خوا کښی په یوه داسی گنبده کښی دی چه چت نه لری او د غیاث الدین بلبن قبر درای پتهوراد کلا په څنگ کښی دی چه په ۱۲۸۶ ع ودانه شوېده، د نورو پاچاهانو قبرونه په ملك پور کښی دی، د دې عهد او دورې یو یادگار «جمالی کمالی» نومی مسجد دی او د دوی قبر په «اشو کاد هار» گوړ گاون روډ کښی دی.

په دې قبر چه په کومو رنگونو گلکاری شوېده هغه رنگونه تر اوسه په خپل حال دی. دا مقبره د کتلو وړ او ډېر ښه ځای دی او جمالی کمالی د هغه وخت ډېر لوی پیاوړی ادیب او عالم ؤ.

دخلجی پښتنو ډیلی (سیری)

دغوریانو د سلطنت د دورې دخاتمې سره سم د هندوستان د حکومت واگې د خلجیانو پښتنو لاس ته ورغلې؛ د دې خاندان بانی او موسس جلال الدین خلجی ؤ چه د خپل نامتوور اره علاؤ الدین خلجی د لاسه وو ژلی شو او په ۱۲۹۵ ع کال پخپله په تخت کښېناست او تر ۱۳۱۵ ع کال پورې ئې حکومت وکړ ده د ډیلی د حکومت لمن تر «راس کماری» پوری پراخه کړه او د ډیلی د اقتدار بیرغ ئې په «پل آدم» باندی و دراوه، علاؤ الدین خلجی په خپل دارالخلافه «سیری» نوم کښېښود، د صفدر جنگ د هوائی اډې څخه چه کوم سرك قطب ته تللی دی، د دغه سرك په شا او خوا کښی چه کومې کنډوالی او کنډرې او ځای په ځای گنبدې لیدل کېږی دغه ټول د دغه «سیری» نومی ښار د موجودیت غمازی کوی.

علاؤ الدین په ۱۳۰۵ ع کال کښی حوض خاص او په ۱۳۱۰ ع کال کښی په قطب نومی ځای کښی «علائی» نومی دروازه او په ۱۳۱۱ ع کال کښی د «قوت الاسلام» نومی مسجد په څنگ کښی په «مینار علائی» نوم دیوې منارې په ودانو لوپیل وکړ چه دغه مناره تر نن ورځی پورې په یو نامکمل صورت ولاړه ده.

د علاؤ الدین قبر هم د قطب مینار د خوا په کنډرونو او کنډوالو کښی دی په دې خاندان کښی علاؤ الدین قطب الدین مبارك ډېر نامتو او لومړی پاچاهان تېر شویدی او نور یا وژل شوی او یا خلع او معزول کړ شویدی. د خلجو دې کورنۍ د ډیلی د شهرت او شان او شوکت په زیاتولو کښی ډېره برخه اخستې ده.

ډیلی د تغلق د پښتنو په عصر کښی:

د خلجو نه وروسته په ډیلی کښی د تغلق پښتنو د اقتدار دوره شروع شوه د دې سلسلې لومړی پاچا غیاث الدین تغلق ؤ دی په ۱۳۲۰ ع کال په تخت کښېناست او په ۱۳۲۴ ع کال کښی د خپل زوی محمد ثالث بن تغلق د لاسه ووژلی شو او په تغلق آباد کښی ښخ کړی شو، ده د تغلق آباد کلاو دانه کړه. محمد تغلق

د سوری شیرشاه بولای جنرال
عیسی خان سوری قبر چه په
۱۵٤۷ کښې ردان شوی دی.

دعیسی خان سوری هغه مسجد
چه په ۱۵٤۷ کښې دده له خوا
ودان شوی دی.

دسوری شیر شاه جوړ کړی
مسجد چه په ۱۵٤۱ کښې
جوړ شوی دی.

چه ددې کورنۍ دوهم پاچاؤ
دنظام الدین اولیاء مقبره او
دامیرخسرو مزارهم ده ودان
کړی دی او د نظام الدین
اولیا په درگاه کښې چه دسرو
ډبرو کوم مسجد جوړشوی دی
هغه مسجدهم علاؤالدین خلجی
ودان کړی دی او ددې
مسجد گنبده دخلجی زوی
خضر خان ودانه کړې ده او
همدغه راز د نظام الدین
اولیاء په درگاه کی چه یو سور
نړېدلی عمارت ښکاری او په
«لال محل» نوم هم یاد ېږی
علاؤالدین خلجی ودان کړی دی
اودا عمارت ابن بطوطه په خپله
سفرنامه کښې هم ذکر
کړیدی دتغلق کورنۍ دریم
پاچا فیروز شاه تغلق ډېر نامتو
شخص تېر شویدی، دې پاچا
له ۱۳۵٤ ع کال څخه
تر ۱۳۸۸ ع کال پوری حکومت
وکړ او په طبیعی مرگ مړ شو،
دې پاچا په ۱۳۵۳ ع کال کښې
جماعت خانه او په
۱۳۵٤ ع کال کښې
«کوټله فیروزشاه» او په ۱۳۵۷ ع
کال کښې ئی دډیلی په خوا کښې
د «قدم شریف» په نامه
یو لوی ځای جوړ کړ، په دې
قدم شریف کښې دده زوی
شهزاده فتح خان او په وطن
مین پیاوړی شاعران او د
بهادر شاه ظفر استاذ دهند خاقانی
شیخ محمد ابراهیم «ذوق»
قبر هم دی.
همدغه راز فیروزشاه په ۱۳٦۵ ع
کال کښې دشاه عالم مقبره او
دډیلی دشاه نصرالدین روشن
چراغ درگاه چه دقطب دمسجد
نه دیو میل په فاصله پروت
دی او په ۱۳۸۷ ع کال کښې
ئی دبیگم پور مسجد ودان کړ.
دترکمان نومی دروازې او د
سیتا رام نومی بازار په منځ
کښې «مسجد کلان» نومی
مسجدهم فیروزشاه تغلق ودان
کړی دی. د تغلقانو ډیلی د
تغلق آباد څخه دفروز شاه
تر کوټله او دموجوده ډیلی تر
اکثرو علاقو پوری خپور شوی
او غزېدلی ؤ، دتغلق پښتنو دربار
دډېرشان او شوکت دربارو، دوی نه
وروسته دساداتو دخاندان
دوره شروع شوه چه ډېره لنډه
او دنیشت سره برابره وه.
ددې دورې ددوو بادشاهانو
خضر خان او مبارک شاه قبرونه
«او کهلی» نومی ځای ته نژدې
په خضر خان نومی ځای
کښې دی.

ډیلی دلودیانو پښتنو په دوره کښې:

په ډیلی کښې دلودهیانو
پښتنو عروج په ٤۱۵۱ ع کال
کښې شروع شؤ، بهلول لودهی
ددو لومړی پاچاؤ، دې پاچا
تر ۱٤۸۸ ع کال پوری
حکومت وکړ، دې پاچا دډیلی
دروشن چراغ په څنگ کښې
خپل ځان دپاره یوه مقبره جوړه
کړه او د «موتی مسجد» په نوم
ئې په دغه ځای کښې یو ښکلی
مسجد هم ودان کړ چه اوس
هم شته. ددې خاندان دوهم
پاچا سکندر ثانی په اگره
کښې وفات شو او دا گرې په
خوا کښې سکندره نومی ځای
هم ده جوړ او ودان کړی دی،
دده قبر په خیرپور کښې دی چه
نن په «لودهی گاؤن» شهرت
لری چه دغه قبر سلطان شهید
محمد ابراهیم لودهی جوړ کړی
دی؛ ددې کورنۍ ورو[illegible]
پاچا محمد ابراهیم لودهی ؤ

چه د ۱۵۲۶ ع کال دا پریل د «۲۱» نېټې په هغه جنګ کښې چه د مغلو سره ئې کړی دی په پانی پت کی شهید شو او دده او دده د پنځو زرو نورو ملګرو قبرونه د پانی پت په خوا کښې په یوه کنډواله کښې دی.

مغلو ترڅه وخته پوری په ډیلی او هندستان کښې د اقتدار پښې وخرلې، لیکن د پښتنو د شیرشاه سوری په مشرۍ د وی ډېر ژر د هندوستان څخه وشړل او د مغلو همایون نومی پاچا ایران ته پناه یوړه.

ډیلی د سوری پښتنو په عصر کښې

د سوری پښتنو لومړی پاچا شیرشاه سوری و، ده شپږ کاله حکومت وکړ ده د خپل حکومت په دوره کښې د زړې کلا دین پناه مرمت وکړ او په دې کلا کښې ئې شیرمنډل او یو ډېر ښکلی مسجد ودان کړل، دا مسجد تر اوسه شته او د پښتنو د تعمیر د فن ښکلې نمونه ده د دې مسجد په غولی کښې امیر حبیب الله خان شهید د افغانستان پاچا د انګریزانو په دوره کښې یوه څاکیندلې او جوړه کړې ده، شیرشاه سوری د هندوستان هغه لومړی پاچا دی چه په هند کښې «لیکولر» حکومت قایم کړې و، دده په دربار کښې وطندارانو ورونو ډېر اقتدار درلود، راجه ټوډرمل دده د مالیې او بندوبست وزیر ؤ، دده په دوره کښې مځکی کچ او جریب کړی شوی ده د پېښور نه تر «کلکتی» پوری یو سړک تېر کړ چه په شاهراه شیرشاهی نوم یادېږی ده د دغه سړک په غاړو مېوه داری ونی او د او بو څاګانې او د مسافرو د هوسایۍ د پاره هر ډول ذرایع او وسایل جوړ او تیار کړی ؤ د دقبر د بهار د علاقی په سهسرام نومی ځای کښې دی، د سوری خاندان دوهم پاچا اسلام شاه او یا سلیم شاه و، دې پاچا له ۱۵۴۵ ع څخه تر ۱۵۵۳ ع کال پوری حکومت وکړ او «قلعهٔ سلیم کړه» نومی کلائې ودانه کړه.

د زړې کلا په خوا کښې د متهرارو ډ څخه تر انډیا ګیټ او شیرشاه میس ته د تللو په وخت کښې انسان د دې کلا د ډېری لوئی او شانداری دروازې څخه تېرېږی او سربېره پردې چه دغه زړه کلا ده ګچ کړی ده ده د عیسی خان مقبره هم ودانه کړی ده. د همایون د مقبرې په خوا کښې ښی لاس ته یو مسجد او یوه مقبره ده چه په دغه مقبره کښې د عیسی خان قبر دی.

عیسی خان څوک ؤ؟

عیسی خان د شیرشاه سوری ډېر ګران دوست او ډېر لوی او پیاوړی سالار ؤ، هر کله چه همایون د شیرشاه سوری په مقابل کښې ماتی وکړه او وتښېتد نو دده بیرم خان نومی جرنیل د سوریانو په لاس ورغی او شیرشاه د عیسی خان په سفارش دده دوژلو څخه تیر شو لیکن هر کله چه همایون په دوهم وار هند ته راغی او بیرم خان ته اقتدار په لاس ورغی نو په دغه وخت کښې عیسی خان ژوندی ؤ بیرم خان دی په ډېر عزت راوغوښت مګر ده د مغلو دربار ته تګ مناسب ونه ګڼه او د مرګ تر وخته پوری ئې آزاد او خود مختار ژوند تیر کړ.

«شیرمنډل» د سوری شیر شاه په زړه قلا «دین پناه» کښې چه سوری شیر شاه په «۱۵٤۱» کښې جوړ کړی دی او همایون مغل په «۱۵۵۵» کښې له همدې ځای ځان را غورځولی او هلاک شوی دی.



د لودی سلطان سکندر د قبر داخلی برخه چه د نرمړوی سلطان زوی سلطان محمد ابراهیم په ۱۵۱۷ کښې ودانه کړی دی.



د سلطان سکندر لودی د قبر د باندینۍ برخه

ښاغلی عبدالغنی خان «غني»

زبرگ

چه دې وس د بدو نه وی — څه به ته څه به دې ښه وی
تو به هله د شرابو — چه شراب در ته پراته وی
چه بوډاشې خوله کړشو په — بیا توبه توبه له څه کړې
هغه ښه له بدو بدوی — له نا کامۀ چه ته ښه کړې
آخوند ناست د ټکړو شکور ته — وائی رند ته به خراب
غریب څه وکړی جومات کښی — نه معشوق شته نه شراب
دا چه باغ له گلو ډك وې — مستانه غوندې ما ښام وی
داچه سرې شونډی ساقی هم — په سورلاس نیولی جام وی
دا چه تا ته رڼې ستر گې — غلی و وائې سلام
په مکېز دې زړه کښی بل کړی — د مستۍ دوزخ تمام
وائی راشه راشه یاره — وخت دې لږ خبرې ډېرې
بیا دې روشان له اوزونه — پستی لېچې کړی چا پېرې
خوله دې خولې ته کړی درپورته — شونډې سرې تو دې بیهوشه
لکه بله ډیوه رپی — د ځوانۍ مستۍ له جوشه
سینه د روړی ستا سینې له — د بخمل په شان ور ښمینه
د ارمان او مینې ډکه — د نرگسو نه نیاز مینه
ستا وجود یو سمندر شی — د طاقت او د سرور
زړه دې وا خلی هغه اور — چه هم اور دی او هم نور
ته چه دغه وخت او چت شې — شې جومات کښی په ژړا

لېونی وائی قسم دی
یا خو غوث ئې یا هیچړا

(دالفت انتخاب)

دپیغلی فوزیه عصمتی په قلم :

ای مړاوې روحه!

څله دې زه په یوعالم مضطربو
او ویر جنوخیا لو کښی ډوبه
کړې یم ولی ؟
هو !پو هیږم چه اثر کوم دی
دبیو زلوو یر جنو زړ و نو
دباخبر وپر یشانو فکر و نو
دهغو بندی خیالاتو په سبب چه
دازادۍ په تمه اوهیله دڅلورو
د یو ا لو نو په گوټ کښی
دتول عمر د پا ره خپل غمو نه
ژړ وی اود ښځی په نامه دډیرو
ناوړو زغمل دژوند یواز ینۍ
وسیله بولی دهغو په خا طـر
ما مضطر به او پریشانه سا تی!
نو ته !!
ما— ساته اود څه لږی زمانې
دپاره ځکه :
زمانه ـ وخت ـ فکر ا و پو هه
دازند انی کړۍ ماتو ی ا وپه
ډ یر ه تند ۍ .
نو: ته هم زمـا اراده ـ زماعزم
وآز مایه اودڅو ورځو دپار ه
زه او س لږ شا نته پر یشا نه
ښکارم خوپه دې خیا ل نه چه
دابددپاره به همداډول فکرو نه
زما دبیوزلۍ علل وی
یه! ز ه پر یشا نه یم
اود ډ یر لږ و خت
دپاره اې زما پریشان
او مضطربه رو حه !!

دمصطفی منفلوطی اثر

پښتو کوو نکی: ښا غلی خواخوږی

الحمراء

د سباوون په چپتیا کښی لاهم
د کار و ا ن د ز غږ غو اواز
اوریدل کیږ ی او ساروانان
له هغی لاری څخه چه راغلی
دی ور و بیر ته ځی ځکه چه
دالحمراء مسافرانو پر نوو ځمکو
اړولی دی .

* * *

تاسی اې زړو مانیو چه په ابدی
برم ولاړی یاست او په دې ابدی
چپوالی کښی دزما نی تیریدنه
او دروز گار دڅر خو گرزیدو ته
گو ر یء ا یا هغو لا لها ند و
مسا فر و ته پخپلو مهر با نو
غیږو کښې ځای ور کو ی ؟ چه
د« غرنا طی » ښکلو جلگو ته
تالی دی .
ا ې گرانی الحمراء زه د ډیر
لیری ځای څخه ستا لیدو ته
راغلی یم اودسوزوونکو بیدیاؤ
ا و لوړو غرو څخه د کاروان
په لارښوونه تیر شوی یم اوس
چه ستا دخد ای در کړی برم
په مقا بل کښی پر خا ورو پر
گونډ وشوی یم اوستا ځلاندی
څیرې ته گو رم، ښه پو هیږم
چه ستا دجنت پشان مځکه ماته
پخپلې غیږ کښی ځای را کوی
ځکه چه ستا ز ړ ه ز مو نږ
دزړورو وهیلو دښخیدو ځای دی!
او دا ستاخلاصه غیږ یو وخت
دمسلمانانو کعبه وه !!

دتصور دنیا گی

ددې مانیو کټاری لاد اسمانو
په مقابل کښې جګی ولاړی دی
او دا کنډوالی د هغو ویرجنو
زړو حکایت کوی چه د تیری
زمانی د نیکبختیو په ویر کښې
د نونو خاورو په منځ کی چپ
بیده دی !

تاسی اې لالهاندو مرغانو!
چه ددې ډبرو په سر یواو ددې
کنډوالو په ګوښو کښې مو
سرونه تر وزرو لاندی کړیدی

راشیء او خپل لوی وزرونه
خپاره کړیء څو داسترې مانۍ
ستاسو دښا یسته سیو رو په پناه
کښې پټی شی او پخپلو ویر
لړلو نغمو دښکلا او ودا نۍ
دروز ګار دافسوس زمزمی و کړی.
اې ګرانی الحمرا! زه د هغو
پرښتو پشان چه ډیر کلونه ئی
دلوی څښتن ستاینه کړیده ستا
دبرم په مخ کښې د کمزورۍ
ګونډه وهلی اوستا پر زړو

خاورو اوښکی تویوم او ښائی
چه ز ما ابدی ګور هم ستا
مهربا نه غېږ شی !

* * *

لا هم د کاروان د زغږ غو اواز
دما ښام په چپتیا کښې غوږ ته
رسیږی او ساروانان پرهغه لار
چه تللی دی وروبیرته را ګرزی
ځکه چه د الحمراء مسا فران
بیر ته پر خپلو لمړ نیو ځمکو
اړولی دی.

ښاغلی اتمان

غوټه او ړنګو

غوټه

غوټه وایی زه ها دنېکمرغي دنیا لمریمه
چېرې چه مې وړانګې دهغه کاله اختریمه
تخت و بخت یم ستاسو خدمتګاره دبشریمه
سیوری دهمایم همېشه ستاسو په سریمه
یم زه بختوره خدای ږو مرغ دهرتبریمه
ښه راسره مله ده تل دهرچا په ښمر
بره بریالۍ زه دکمزورو مټ وزریمه
برم راسره په درناوی لکه لوی غریمه
ورکه دړنګو اولوی زوال دهرخطریمه
ستاسو ساتندویه دبلا مخ ته موسپریمه
ژغورم مو له بدو مخالفه دهرشریمه
ستاسو نېکمرغی پرښته پاکه داکبریمه

څوك چه مې پالی هغوته ښه هوساژوندون بښم تل خپلو پالونکو ته بری دژوندسمون بښم

ړنګو

ما ته ړنګو وایې زه له لویو پتنوډکه یم
ښه غوږ راته نیسی زه مدام ستاسو په ورکه یم
لو نیستی خواری یم دخدای قارپه هره مځکه یم
لرې له ما ګرزیء بلا لویه بېدرکه یم
زه په ځان مرګویا وچکۍ توره تره ټکه یم
هرتبرو ولس ته خدایږو تندر توره ټکه یم
ډېرمې پوپنا کړل ولسې اجل له ټکه یم
ډېر کلی مې وران کړل دورانۍ په کار کښی کلکه یم
زه مخۍ دغوټې په ړونګیا کښی یې ځیرکه یم
پېڅ پسات مې کاردی دشیطان سکه خورکه یم
واړه بدبختی له ما پیدا زه یې مورکه یم
تل زه دیو والی دکوڅې دسر تلکه یم

ډېر کره ځوانان مې په بلاوو کې ایستلی دی ډېرمې د«اتمان» غوندې له برمه پرې ایستلی دی

د استاد حمزه شینواری

شاعری

لږ روځی کیږی چه کابل مجلې دپیاوړی الفت صاحب په قلم د استاد حمزه اشعار دخپل ذوق مطابق « دده په قول » وښودل دادی زه هم دحمزه دشعرونو د کتنی وروسته دده پر شاعری څه وایم او دخپل مذاق په مطابق. حقیقت خو دادی چه الفت صاحب په خپل پاخه قلم دده داشعارو ناز که برخه ښه ښودلی وه او د حمزه معرفی ئی په هغه شان سره کړې وه چه وماته نور ضرورت نه و پاته شوی - مگر دده دمذاق سوال زه معتبر گنم او په همغه اساس د امقاله لیکم.

ما د استاد حمزه دیوان یا داشعارو چاپ کړی مجموعه و کتله. په دې مجموعه کښې ما علاوه پر ناز کخیا لی یو بل امتیاز هم ولید چه هغه د نورو پښتنو په اشعارو کښې خورا لږ لیدل کیږی اوهغه امتیاز دادی چه استاد په بزمی برخه کښې خپل قومی عنعنات او خویونه په ډېر ښه ډول ښوولی دی مثلاً دی په یو بیت کښې وائی :

راوله مغل ورسره خیر خو رقیبان دی نه وی

گوره چه پښتون خاطر می نه کړی میلمنو ته خفه

دلته دهمدې بیت ویونکی ته داخبره ښه څرگندیږی چه پښتون دمیلمه قدر کوی او میلمه پالنه دهمدی قوم شعار دی.

یا داچه بل ځای وائی :

ما کوز ورته لیمه کړه زما سر نه تیتیده

شاید چه په الفت کښې وافغان ته پاته کیږم

ددې بیت ویونکی بلا شك او تردیده دا منی چه افغان قوم سر تیتیدل خپله ډیره کمزوری گنی او سر کوزی حتی په محبت کښې هم د خپلو شعایرو نه بهر شی بولی ښه ! ممکن زما دمقالی ویونکی به ووائی چه د هر قوم اشعار دهغه قوم نمایندگی کوی - زه دامنم خو زه وایم حمزه استاد تر هر شاعر په همدې لار کښې د لومړی درجې شاعر پاله کیږی او تاسی به هم دهمدې مقالې د لوستلو نه وروسته بالکل دا راسره ومنئ چه استاد حمزه په بزمی دنیا کښې پښتون ' پښتو - پښتنواله څرنگه ځای کړی ده.

د استاد حمزه اشعار او پښتون :

عشقه ته خود بین ئی زه پښتون یمه — مانه ده ښو دلی گدا ستر گوته

یه همدې بیت کښې حمزه استاد دیا ن گدا د حسن دپاره دپښتنو الی په قا نون کمزوری گڼی او داجذبه دلته ښکا رول غو اړی .

بل ځای :

وار ئې خطا نه کړ که بې و اره دنظر غشی ؤ

څو څو ځله پر یوت خو «پښتون» وپا ځیدلی نظر

و گورئ دنظر دغشو گذا رو نه اود نظر پر یوتل او بیاوار نه خطا کیدل او علت هم پښتنوا لی - داد ول ادا به و ماتهٔ ډیره کمه په اشعا رو کښې څوک را وښیی.

بیا وا ئی :

مات شو تغافل ئی که ډیر زو ر و غو ښت — نا ز ئی ؤ پښتون چه ئی پیغو ر و غو ښت

د لته تاسی د نا ز پښتو ن بلل ا و بیا د پیغور غو ښتل چه پیغو ر پښتو ن نه پر ېږد ی او غواړی ئی و گورئ !

بل ځای :

زه ساده «پښتو ن» وم قسمت ما ته

سیاه ز ړه لکه مغل کړی زلفی ستا

استاد خان رشتینی پښتون اوز لفی دیوه مغل په شان تور زړی ګڼی اود پښتون دفطرت دصفائی ښو ونه کوی — په ر ښتیا سره چه پښتون دفطرت صفا ئی هم لر ی .

بیا هوډه هم ښیی لکه چه وا ئی :

سرد حسن به ئی ښکته شی په پښو کښې

هوډ دمینی که په شانی د «پښتون» کړ م

حقیقت خو دادی چه دپښتون هوډه ـ هوډه ده یعنی «هو» ئی « هو او «یه » ئې «یه» وی دی دهوډې په تائید وا ئی :

کړ مه جها ن به د «پښتون» ز لمی - د خپلو پیغلو حو صلو سر ه ځم

پیغله حوصله د هو ډې دسر ته رسو لو ښه ممداو حامی کیدلای شی.

استاد کله کله پخپله هم دپښتون نما ینده گی کو ی او و ا ئی :

ئیټ به د حمزه نظر شی ستا مغل نظر ته ؟

دې پښتون چه جور دفر نګ لید لی دی ؟

یادا :

ستا که حسن پر نګی دی محبت زما پښتون دی -- زه انګار کړم له غیر ته ستا انګار خوله پنداره یعنی که ستا حسن پر نګی دی لیکن د پښتون په مقابل کښی خو ډیر کمزوری او ناچیزه ښکاری .

اوس و استاد ته خپل د غم درند والی و ګوری ء دی وائی :

نو ر همه غمونه زه ځغملی شم چه څه وی

بس خو یو غمونه دا فغان مه را کوه

دادی و استاد حمزه ته د پښتون دغم درندوالی او هغه ئې همت ؤ د نورو په مقابل کښې

پښتانه داستاد حمزه په اشعارو کښې :

دی وائی :

ستر ګی دی چه غشی کور توی زما نظر ته ـ تاد «پښتنو» ز لمیو جنګ لید لی دی!

د پښتنو زلمیو د جنګ لیدل او بیا د هغه جنګ اثر اندازی د ستر ګو و ښو ته یا په بزمی رنګ کښې خپل ملی شعار ښودل داستاد ابداع ده نه دهر هر شاعر.

بل ځای وای :

بانه دی تول شی ملا تړ د نظر ـ چاوی یو غبز د پښتنو نشته

یو غبز کول او په یوه غبز راتولیدل او یو دبل ملا تړ کیدل پښتنی قانون دی او دی همدغه قوت او عادت د بزم په دنیا کښې غلبه او قوت بولی نه هغه حسن علل چه نورئې د لمر لویدلو او لمر ختلو د پاره راوړی په همدې شان دی د زلفو او مخ دو رنګی د بل قوم شعار بولی او وائی که دوی پښتانه وای نو یکر نګی به ئې لرلای.

زلفی دی یو څه مخ دی بل څه کوی

حیف چه یو خیال د پښتنو نشته

یاد سوری شیرشاه ـ احمد شاه ابدالی د دوران پښتانه او د دوی پر یوه مرکز راغونډیدل د پښتنو الی ښه ثبوت بولی او په بزمی صورت دا ارمانونه د تمرکز د پاره

داډول علتوی ،

په یو مرکز به ارمانونه پښتانه سی ژ ما

که التفات ئې د کـکو کړلې ډیوې ستر گی

په همدې شان په ډېر شجاعت ود ښمن ته په زغرده ویل داسی یادوی :

ستادبڼو خبری نیغی وی تل ـ داسی وی تل د « پښتنو » خبری .

پښتنې داستادپه اشعارو گښې:

گوری ء ! لـکه څرنـگه چه پښتون او پښتانه خپل ځانته مخصوص پښتنی اساسات لری په همدې شان پښتنې دپښتنوالی څخه بې برخی نه دی نو ځکه حمزه استاد خـه بزمی دنیا په همدې ډول خویونو هم رنـگینول غواړی اووائی :

زه پښتنو ستر گوته نیازبین زړه ور کومه

گورم چه نازبینه پښتنه ور سره څه کا

دلته پرپښتنې دننواتی پورښئی ځکه پښتون او پښتنه دواړه ننواتی منی او دا الزام دی دلته پښتنې ته څرمه کول غواړی مگر دزړه په ور کړه. په همدې شان بله ننواتی داو ښکو چه اوښـکه مؤنـثه هم ده او دښځی ننواتی دپښتنی قانون ډېر مهم عنصر باله کیږی دی دلته همدغه مطلب داډول ښکاره کوی :

اوس خوداغشی دبڼو دی را ته مه کور توه

په ننواتی زما اوښکی « پښتنې » راځی

بل ځای ستر گی تیټول دړندېدلوو ړبولی مگر دمحبت اثرداښئی چه دنه ړندېدو دعا ورته وشی اووائی :

« پښتنې » ستر گی دښایست په قدم

مه شه ړندې په تیټېد وراضی

استادیووارپه استفهامی ډول له ځانه داډول پوښتنه هم کوی :

بې له احساس د کمترۍ به څه وی

ستاددې اوښکو پښتنو په ژبه

دحمزه استاد په اشعار و گنبی پښتو :

دی وائی :

تل دی دستر گو په وینا تېرو ځی

زما په ستر گو کښې پښتو نشته

دی دلته دپښتونه کولو علت دستر گو وینا بولی او خپله پښتو ساتلی گڼی ،

په همدې شان پر پښتنی ننگ اعتماد کول داډول ښئی :

ستاد تر خو به داعلاج وی چه په کور درشم — ننگ د «پښتو» به دی میلمه ته کړی خوږی ستر گی

بل ځای خپله پښتو داډول ثابتول غواړی :

د رنه به وانه ورمه پوه شوې که یه !

د رته می و کړی په «پښتو» خبری

ملیت : داستاد دملیت جذبه د همدې بیت نه ښه څر گند ولای شی؟ :

دملیت لمره دپرخی په څیر — ستاددی شوخو پلوشو سره ځم :

پښتنی شبخون داخو به تاسی ته ښه معلومه وی چه شبخون دپښتون قام دخاصو ممیزاتو څخه

دی او دی داممیزه داډول څر گنده وی

ځی جر گه دانتظار می دلیمو نه

په الفت گنبی دسحر په وخت شبخون شی

تیگه ماتول :

اخیر به تیگه کړې زما او درقیب ماته

ته ورسره چه کله کله جنگوې ستر گی

و گوری ء! تیگه ماتول او تیگه ایښوول پښتنی قسم دی او داقسم دی په خپل بز می

ادب گنبی څه ډول ښه ښئی . او س به نو ممکن ما حمزه استاد د خپله

مذاق سره برابر ښوولی وی.

محمد دین «ژواك»

دامریکا له متحده ممالکو سره اشنائی

دکابل مجلی ښاغلی چلوونکیه!

دادی ستاسو دغوښتنی سره سم وروسته لدې به د کابل مجلی په هره ګڼه کښې ښاغلیو لوستونکو ته دنړۍ دسترو او لویو هېوادونو څخه یو هېواد ډېر په لنډ ډول ور و پېژنم.

څرنګه چه نن دامریکا متحده مملکتونه په نړۍ کښې داقتصاد سیاست، تخنیک، صنعت، تجارت او نورو پیداوار و له مخې یو لوړ مقام لری، نو ځکه ترټولو دمخه ددغو مملکتو په پېژندګلۍ لاس پورې شو:

دامریکا په لویه وچه کښې

۴۸ ولایتونو متحداً یو ځانله ستراوقوی دولت د یونایتت سټېټ امریکا په نامه جوړ کړی دی.

د دغو ولایتونو زیاته برخه دمځکې په شمالی معتدله منطقه کښې پرته ده او په داسی حال کښې چه دشمال خوا ته ئې کانادا او لمر ختیز ته ئی اتلانټیک او لمر لوېدیز ته ئې پاسفیک او جنوب ته ئی دمکزیک خلیج او د مکسیکو مملکت واقع دی؛ اته ملیونه کیلومتر مربع سطح لری چه دغه سطح د فرانسی له سطحی نه ۱۴ کرته پراخه او ارته ده.

لوېدیز خوا ئې سر تر پایه غرنۍ ده او ختیز او جنوبی او شمالی او منځنۍ برخه ئې تقریباً اواره او د کرهڼی او د بشر دژوند او ژواک دپاره بېخی مساعده او د ستاینې وړ مځکه ده. اقلیم ئی په عمومی ډول معتدل او نرم دی.

دډېرې دسکرو کانونه ئی دویرجینیا او پنسلوانیا په ولایتونو کښې دی او ددې مادی په استحصال کښې په ټوله دنیا کښې اوله درجه ده.

دپټرولو چینې ئی د کلیفورنیا تکزاس، او کلاهوما په ولایتونو او د سوپیریر د جهیلونو په شاوخوا کښې دی او د دغی مادی په استحصال کښې هم لا تر اوسه په دنیا کښې اوله درجه ګڼل کېږی.

په همدې ډول دامریکا متحده ایالتونه د مس، نقره، سرب کبریت، مګنیزیوم، ژېړ، وسپنه برېښنا، نایلون، سونډ، لرګی پنبه، جوار او دتورو وربشو په استحصال او استخراج کښې په ټوله دنیا کښې اوله درجه ده.

مګر دپسونو په لرلو کښې په ټوله دنیا کښې پنځمه، په وړیو کښې پنځمه، دغویانو په لرلو کښې وروسته تر هنده دویمه، د خوک په لرلو کښې وروسته له چین څخه دویمه او د بوکسید دفلز په لرلو کښې دویمه، په وربشو کښې دریمه، او په غنمو کښې وروسته له شوروی روسیې نه په دویمه درجه کښې راځی.!

او په منګانیز، فاسفېټ، قلعی چای، قهوه، ککو، وریجې، قند ګنی، نباتی غوړی. ربړ او داخبارونو په کاغذ کښې لږ او ډېر نېشتمن ښکاری.

خوسره لدې هم د دغو متحد و مملکتونو صادرات زیات او واردات لږ دی. چه دصادراتو او وارداتو دغسی توپیر ظاهراً

د دوی په اقتصادی ژوند ښه اثر اچوی.

نیویارك او شاو خوا سیمې ئی له خپلو ۱۲ ملیونو نفوسو سره په دنیا کښې لومړی درجه لوی ښار او ستر بندر ګڼل شوی دی په همدې ډول بوستون، بالتیمور نیو آرلیند هم ستر بندرونه دی چه د امریکا د متحدو ولایتونو په تجارت کښې یو پیاوړی او ګړندی رول لوبوی.

په دغه مملکت کښې دوه حزبی سیستمونه چلیږی چه یوه ډله ئې د یموکرات او بله ډله ئې جمهوری غوښتونکو بولی او اوسنی حکومت چه ایزنهاور دهغې ستر مشر دی د جمهوری غوښتونکو په لاس کښې دی د حکومت لوی مرکز دواشنګټن ښار دی دغه ټول ولایتونه پخپل منځ او په خپلو کورنیو چارو کښې خپلواك او آزاد دی مګر باندنی سیاست ئې دواشنګټن په حکومت پوری اړه لری او دانشی کولی چه هر ولایت پخپله راساً د نورو مملکتونو سره خپل سیاسی روابط ټینګ کړی او یا د خپلی خوانه «یونو» ته خپل نماینده واستوی.

دامریکا د متحدو اضلاعو اقتصادی رژیم کاپیټالیستی «سرمایه داری» ده دغه حکومت «د جمهوری غوښتونکو حکومت» خپل دغه راز اقتصادی رژیم حمایه او تقویه کوی او د سوشیالیزم او کمونیزم نه سخته کرکه لری او خپل ټول وخت او فعالیت ئې د کمونیزم د مخ نیوی په لیار کښې وقف کړی دی.

دغه مملکت د ۱۹۵۰ ع کال د احصائیې له مخی «۱۵۷» ملیونه نفوس لری (څرنګه چه هلته د ژوند سویه ډیره لوړه ده نو لدی کبله دو ګړو شمېر ئې ورځ په ورځ مخ په زیاتیدو دی) چه په دغو «۴۸» ولایتونو کښې په غیر متوازن ډول وېشل شوی دی په دوی کښې سپین پوستی ډېر دی سره پوستی چه هغوته انډین وائی دامریکا د لوئې وچې اصلی وګړی اوس دومره زیات نه لیدل کېږی او په جنوبی لتو کښې تور پوستی او ژړ پوستی مم شته شمېر ئی تقریباً «۱۰» ملیونو ته رسېږی.

دغه مملکت په ۱۷۷۴ م کال کښې یعنی ۱۸۳ کاله پخوا د جارج واشنګټن، هنری، سمول ادم جان ادم، جفرسن، بنجامین فرانکلن ترمشری او لیار ښودنی خپله آزادی د بریتانیې له پاچا «دریم جارج» څخه وروسته له ډیرو جګړو او شخړوو ګټله.

د امریکا متحده

۴۸ مملکتونه دا دی:

۱ واشنګټن	۱۸ ایداهو
۲ کلیفورنیا	۱۹ مونتانا
۳ تګزاس	۲۰ وایمنګ
۴ ارکنزاس	۲۱ یوتا
۵ لوسیانا	۲۲ نارت ډاکوتا
۶ مسسپی	۲۳ سوت ډاکوتا
۷ میسوری	۲۴ نیبراسکا
۸ الاباما	۲۵ منی سوتا
۹ جیورجیا	۲۶ اووا
۱۰ فلوریدا	۲۷ وسکانسن
۱۱ اوکلاهوما	۲۸ الینایز
۱۲ کنساس	۲۹ کنتوکی
۱۳ آریزونا	۳۰ انډیانا
۱۴ نیومکسیکو	۳۱ وهیو
۱۵ کلوراد و	۳۲ نیویارک
۱۶ نیوادا	۳۳ ټینسي
۱۷ اوریګان	(پاته په ۲۸ مخ کې)

شاغلی بختانی

ادبی انتقاد

د کابل مجلی په (٤٢٢) گڼه کښې د ښاغلی «ادبی مبصر» یوه تبصره د (ادبی انتقاد) په باره کښې نشر شوې وه زه بې له کوم تردیده د دغه اقدام استقبال کوم او د دغسې ستر گوزو د بصیرت التفات په لیمو منم، دا عقیده د منلو ده چه د ادب تله باید ډیره حساسه وی او د ادب د ترقی د پاره د ادبی انتقادلار بېر ته شی. ادبی مبصران دې ادب له طلسماتو او موهو ماتو څخه وباسی او ادبی شخصیتو نه دې له دې غلطی نه وباسی چه د دوی غلطی لکه د پارلمان غړی مصئونیت ولری. ستاسو ادبی مبصر په ادبی انتقاد کښې د خلکو له دښمنی نه لږ څه وېرېدلی دی چه دده وېره په زړونو کښې وېره پیدا کوی، خو مونږ باید له دې ونه وېرېږو چه په چا تنقیدو کړو او زمونږ آثارو باندې انتقاد وشی له دې خبرې نه ډیره وېره په کار ده که د سباورځی مترقی نسل زمونږ آثار تر ادبی میکرو سکوب لاندې ونیسی او زمونږ د ډیرو غټو لیکوالو وړې غلطی غټې وښیی. هغه چه غلطی کوی او د خپلی غلطی نیول هم غلطی گڼی د ډیر ترحم وړ دی ځکه چه د دوی ادبی آثار او لیک هم غلطوی او د فکری او ذهنی غلطی په مرض هم اخته وی، ادبی مبصران باید پری ورحمیږی او د دوی کارونه او فکرونه سم کړی. او که نه:

«خشت اول گر نهد معمار کج
تا ثریا می رود دیوار کج»

مونږ د ادب په دنیا کښې لویان بزرگان او مقتدر لیکوال باید هغه ښاغلی و گڼو چه د قام او قامی ژبی تعمیر ډیر پوخ، متین، سم او ښکلی تر اسمانه هسک کړی او دومره قوت پکښې پیدا کړی چه آتوم ئی له ماتولو عاجز شی. دوی باید نرغوندې انتقادو کړی او نرغوندې ئی واوری، په تېره بیا چه دوی پښتانه دی او په پښتو کښې صراحت او ښکاره ویل مېړانه او پښی شاخبرې نامردی ده، د پښتو عملی ادب په همدې اساس باندې ولاړ دی او د پښتنو الی مهم عنصر شجاعت دی، نو تحریری او شفاهی ادب ئی هم باید پښتون وی. دې حقیقت باندې مردانه اعتراف په کار دی چه مونږ ډیر بېر ته پاته یو او زمونږ

(پاته په ۲۹ مخ کښې)

(د ۲۷ مخ پاتې)

٣٤ نارت کارولینا
٣٥ سوت کارولینا
٣٦ ویرجینیا
٣٧ ویست ویرجینیا
٣٨ پنسلوانیا
٣٩ نواسیکوتیا
٤٠ نیوبرانسویک
٤١ نیو همپشایر
٤٢ نیوجرسی
٤٣ کونکتی کټ
٤٤ ماری لینډ
٤٥ مین
٤٦ ویرمانت
٤٧ ماساچوست
٤٨ رود ایلینډ

نوټ:- دغه ټولی احصائیې چه په دغه ترڅ کښې ښودل شوی دی زیاتره په ۱۹۵۰- ۱۹۵۲م کال پورې اړه لری.

(د ۲۸ مخ پاته)

ادب هم بېرته دی نو دا په کار دی چه څرنګه چه د نورو نواقصو تکمیل او ترمیم ته هڅه کوو دادب اصلاح او ترقۍ ته هم متوجه شو، د دې خبرې مهمه لیار یوازی ادبی انتقاد دی په تېره بیا چه زمونږ ادبیات د ترقۍ په ابتدائی مراحلو کښې دی.

دا خبره رښتیا ده خود وېرې نه ده چه زمونږ انتقادی روح بیخی کمزوری دی که زمونږ کمزوری پټه پاته شی دا به دوېری موجب وی.

یو اخبار، یوه مجله او جریده سر و کال غلط چلېږی او څوك پرې انتقاد نه کوی، بل ښه وی او شابسی نه وینی فقط د جرائدو په نوی کال کښې نور جراید یو راز فارمولیتی تقریظونه پرې لیکی، د تېر کال خدمتونه (؟) ئې ستایی، د نوی کال تبریك ورته وایی او موفقیت ئی غواړی. په داسې تقریظونو کښې د انتقاد یوټکی هم نه وی او په ټول کال کښې د ښو او بدو هیڅ تمیز نه کوو او یائی کولی نه شو. ادیبان او لیکوال باید دومره بی تمیزه نه وی او په وطن کښی د بی تمیزۍ نشریات ونه کړی، مونږ باید د ښو او بدو تمیز وکړو، دا تمیز کول هم په کار دی چه غلطۍ باندې انتقاد کول ښه دی او که له هغوی نه ښوی تېرېدل؟

په مونږ کښی د انتقاد منلو روح خو بیخی نشته او رښتیا له نقاد انو سره مودښمنی را اخستی ده، دې کښې غور په کار دی چه دا دښمنی په ځای ده که بیځایه؟ دا له ځانه سره ده او که له قام او ژبی سره؟ د همدې لامله د انتقاد لار هم بنده شوې ده او د خلکو د دښمنۍ له ویرې نقادان هم خپله وظیفه پوره اجرا کولی نه شی.

هغه ورځ د پښتو ژبی یوه مشهور لیکوال زما د یوه شعر چه په اتحاد مشرقی کښی نشر شوی و، ډیره ستاینه وکړه او ډیر شابسی ئی را کړ، خو په اخره کښی ئی «خو» وکړه او وروئی وویل چه د پښتو ترکیباتو له مخی ئی ځینی کمزوری لرلې، بیائی د سیاست مدارانو په انداز کښی وویل چه ماستا شعر لوسته ډېر خوندئی را کاوه، او په ځینو برخو کښی مې له ځانه سره ویل:

چه که زه شاعر وای نو «د دې په ځای» به مې «داسی ویلی وای» ما ترې خواهش وکړ چه لطفاً خپل انتقاد ولیکه او د نشر د پاره ئی راولېږه، خو دا ښاغلی داسی مسلمان ؤ چه څه ئی چه په ځان پېرزونه و، په بل ئی نه شو پېرزو کولی. مونږ باید په لار ښودنو کښی خصوصاً د ادب په لار کښی بخیلان ونه او سو او د خپلې پوهې پېرزوینه ډیره کړو، او که زمونږ لویان او بزرګان دېته تنزل نه کوی چه خوارانو او کمزورو ته لاس ور کړی او د غلطیو له تیارونه ئی پورته کړی دوی دې کچکول واخلی او د روېزه دې دی وکړی. زه د یو کشر او کمزوری لیکونکی په حیث په دې پوهېږم چه زما په اثارو کښی به ډیر نقصونه موجود وی او له پوهانو نه د انتقاد انتظار لرم.

زما دا عقیده ده چه مونږ د دنیا تغیر یو طبیعی کار بولو

که په دی اساس مونږ دو طن تطورا وتحول د ترقۍ خوا ته ضروری ګڼو نو باید پخپلو افکارو او نفسیاتو کښی هم تغیر ومنو مونږ باید خپله هره خبره د تقدیر کرښه ونه بولو، مونږ باید پخپل ادب کښی د اتحول ومنو او له مصونیت نه ئی وباسو. مونږ باید نقادانو ته په درانه نظر وګورو او د ځان، قام او ادب دوستان ئی وګڼونه د ښمنان. زه پخپلو دې نظریاتو ډېر ټینګ یم، زه یوازې دهمدې نظریی مخالفت نه شم منلی او په دې لار کښی دچا نصیحت، لارښودنی او انتقاد ته احتیاج نه لرم. نور خپل ټول نظریات، افکار او اثار د تردید انتقاد او ترمیم محتاج ګڼم، که په دغه محتاجۍ کښی څوک راسره مرسته وکړی زه به ئی داستادۍ مهربان لاسونه ښکل کړم.

زه له ټولو لیکوالو نه خواهش کوم چه زما په ټولو اثارو باندې ازادانه انتقادو کړی. زه پخپلو کارونو او اخلاقو باندې هم انتقاد منلی شم.

دې دپاره چه ستاسو ادبی مبصرته د اثابته کړم چه که دی دیوې خوانه دادبی انتقاد نه وېرېږي او د چامبارک نوم په خوله اخستی نه شی او وائی چه دچاپلار به د دوی غلط ته غلط ووایی دبلی خوانه زه ډاډور کوم چه دغسی کسان شته چه هغوی په انتقاد خوښېږی که څه هم ددوی نومونه او د پلرو نومونه ئی هم واخستل شی. یوله دغو کسانو نه زه یم او له ده نه په ټینګه غواړم چه یو ځل خودې امتحان وکړی او زما هغه اثار چه سبز کال په کابل مجله کښی نشر شوی دی یو یو مخی ته واچوی، و ئی لولی او پرې تبصره ولیکی. او ټول معایب او محاسن ئی داد بی انتقاد په حساسه تله و تلی او په ډاګه دی ووائی چه دادعبدالله بختانی مضمون یا شعر دی.

تاسی هم دامتحان د پاره د ده تبصره نشر کړیء، زه خو هیڅ تری نه وېرېږم، تاسو زما د اخواهش ورته وړاندی کړیء څو چه ئی وېره لږه ورکه شی. که بیا هم وېرېده نو ملا ته دې ورشی او د وېری تعویذ دې وکړی.

د «س» ترجمه

د خان عبدالصمد خان محاکمه

٤ برخه

موجوده مقدمه:

له دې اوږدی کیسې څخه داحقیقت څرګندېږی چه په دې خاوره برسراقتدار خلکو تل داکوشش کړی دی چه زما او یا زما دجماعت سره دلږ ډېر مخالفت څخه استفاده وکړی او یا کوم شی ته چه دوی ورته مخالفت ووائی دهغه د منځه دایستلو په بانه، ددې مقصد د په لاس راوستلو دپاره دخلکو د ټولو نکته چینیو څخه ځان بې نیازه ګڼلی په تشو نارو او سورو خلك غولوی او دهغو په وسیله دخپل استحصال او پیسو شو کولو سلسله جاری وساتی داکار که په مشرق کښی وی او که مغرب کښی او که په جنوب کښی وی او که په شمال کښی، ددې کارونو په اثر له یوې خوا شو کونی او استفادې کوی او له بلی خوا په دې پلمه د مملکت د ټولو مهمو مسئلو دسرته رسولو په لړ کښی په خپلو بې کفایتیو پردې اچوی او دهغو دپټولو دپاره فرضی عذرونه او بانې پیدا کوی، نن چه ددوی له دغی لوبی او چل څخه پرده پورته شوې ده او دوی خپل انتظامی او اداری اقتدار دپخوا په څېر په عوامو باندی په بې پروایۍ سره نشی استعمالولی، سر بېره پردې هر کله چه دوی نن د مسلم لیګ دپردې څخه راوو تل او دری پبلکن په پرده کښی ورننو تل نو په دې وخت دوی دخپلی پخوانۍ لیاری په ځای دا لیار غوره کړه چه دوی نن مونږ محکموته د محاکمې دپاره راکاږی، غالباً دوی داخیال لری چه له دې کبله دوی د لوړو منصبونو او جګ اقتدار او نورو ډېرو مالی سهولتو او کامیابو دوسیلو خاندان دی، نو دوی مقابلتاً زمونږ په خلاف دعوی په ډېره اسانه او کامیابه طریقه وړاندی کولې او دخپلی خوښۍ سره سمی فیصلې لاس ته راوستلی شی.

پښتونستان:

زه دخپل دې بیان دختمولو نه وړاندی د دې حقیقت څرګندول مناسب ګڼم چه دهمیشه څخه زه داعقیده لرم او داعقیده زما دسیاسی ژوند مهمه برخه ده چه د هغو پښتنو څخه چه هغوی دپاکستان سره په یوه ګاونډی منطقه کښی استوګنه کوی او انګریزانو په مختلفو نومونو دیو آئنی تقسیم په اساس له یو بل څخه جلا او ټوټې ټوټې کړیدی یو جلا وحدت جوړشی او دغه وحدت دی دپښتونستان په نوم یادشی. په دې لیار کښی داکوښښ زما دژوندانه څخه قطعاً نشی جلا کېدلی او نه کوم تکلیف او تشدد له ما څخه دغه عقیده جلا کولی شی، زه په دې حقیقت هم پوره عقیده لرم چه داتجویز دپاکستان دمجموعی امن او ترقی

اوسالمیت دپاره دومره گټوردی
څومره چه دا تجویز ددې اتیالکو
پښتنو او یا په بل عبارت دپاکستان
د مسلمانانو دپنځمی برخی
دمسلمانانو دپاره گټور او
مفید دی او دا ځکه چه :

(۱) په دې نننی عصر کښی
دترقۍ مرکز او معیار تعلیم
گڼلی شی او دنړۍ د تعلیم
اوروزنی ټول پیاوړی متخصصین
په دې حقیقت متفق دی چه دتعلیم
اوزده کړی یواځینۍ او کامیابه
طریقه په مورنۍ ژبه کښی
تعلیم دی او بس، موثر او گټور
تعلیم یواځی په یوه ژبه ورکول
کېدلی شی یعنی په هغه ژبه
ورکېدلی شی چه په خلکو او
ټولنه کښی پوره رواج ولری
او په دفترونو، تجارتی مرکزونو
او ادبی علمی ټولنو کښی
دعمومیت او مقام خاوند ه وی
او دا خبره امکان نه لری، ترڅو چه
دپښتنو دپاره دپښتونستان په
نوم یوه ځانته جلا صوبه جوړه
نه کړی شی او په دغه صوبه کښی
تعلیم او دصوبې په دفترونو کښی
او یا ددغی صوبې ددفترونو په یوه
برخه او نورو تجارتی کارونو
ددوی خپله پښتو ژبه رواج
پیدا نه کړی .

(۲) ددې زمانې د حکومت
دټولو څخه لویه کارنامه داده
چه دغه حکومت دخپلې آبادۍ
د ډېری برخی دپاره د ابتدائی
تعلیم وړیا او جبری انتظام
وکړی، کیدلی شی چه دپاکستان
حکومت هم په دوو او یا پنځو
راتلونکو کلونو کښی دننه دننه
په دې ملک کښی د وړیا او
جبری تعلیم انتظام وکړی، دټولی
نړۍ خلک په دې خبره متفق
دی او زمونږ خپلی تجربې
هم ددې حقیقت پوره شاهدانی دی
چه دلوست اوزده کړی
دضرورت دپوره کولو دپاره
ابتدائې تعلیم بس او کافی دی
مگر په دې شرط چه دغه تعلیم
په مورنۍ ژبه کښی وی .

لنډه دا چه پښتونستان دې
جوړ شی او ارو مرو دې جوړ شی
او دا ځکه چه بې دپښتونستان
دجوړېدلو څخه به پښتانه دعام
تعلیم اوزد کړی د لوړ نعمت
څخه محروم او بې برخی پاته شی.

(۳) دپښتنو په مقابل کښی
کومو خلکو ته چه تعلیم په خپله
مورنۍ ژبه او یا په یوه داسی
بله ژبه چه دهغو دمورنۍ ژبی
سره دغه ژبه مشابهت او نزدې والی
لری یعنی په اردو او پنجابی
ژبه کښی ورکولی کېږی او
له دې کبله به پښتانه تل له دوی
څخه د اعلی او عالی تعلیم په
میدان کښی وروسته پاته وی او
دا یوه ښکاره خبره ده چه دې ډول
صورت حال دمنلو د پاره هیڅ
پښتون تیار او آماده نه دی .

(٤) دژبی دمسئلې نه وروسته
مونږ ته دا هم معلومه شوېده
او لیدلی مودی چه پښتون په
خپل معاشرت او نورو ډېرو خبرو
او دژوندانه په طرز او طریقه
کښی دخپل ژوندانه په سلسله
کښی تر یوې اندازې پوری
رجعت پسند واقع شوېدی
او دا ځکه چه ددوی په ملک
به سوونو کلونو ایرانیانو، عربو،
مغلو او انگریزانو حکومت
کړی دی، مگر ددوی په ژوندانه
او خیالاتو دغو شیانو څه او کوم
اثرو نه شو کولی.

(٥) سربېره په دې پښتانه
دخپلی خاوری سره تر کومی
اندازې مینه او علاقه لری ددې

(پاته په ۳ پشتۍ کښی)

که تاسی زمامنیء دچاقصرونو، موترونو، منصبونو ته مه گوری ء بلکه کار، فکر، ارادې، ته ئی و گوری ء.

تاسی باید په سړو پسی و گرزیء اوسړی ولټوی ء!

هغه کسان چه د مملکت بهبود او سعادت غواړی او د اجتماعی درد او احساس خاوندان دی هغه و پیژنیء او په محبت ورته و گوری ء!

او س هغه وخت تیر شو چه یو سړی به د معاش او رتبی، د عزت او اعتبار له مخی پیژندل کیده او یا به د قوت او اقتدار له خواورته خلکه کتل.

دې عصر هغه باداران او اغا گان له اعتباره وغورځول او د وطن خدمتگارانو ته په قدر او احترام گوری.

ددې وخت انسان په انسان کښې معنویت او فضیلت لټوی.

په دې وخت کښې هماغه سړی ښا غلی او منلی دی چه وطن او مملکت ته ئې خیر او نفع رسیږی.

او س هغه وختونه لاړل چه خلکو به د جاه وجلال یا د ریا او تذویر په طلسم کښې ځا نونه پټ کړه او چا به ئې کار او عمل ته نه کتل.

ددې زمانی آئینه بل رازده او علاوه دلباس او جامو په صفائی او خیر نتوب دانسان معنوی توروالی او سپینوالی هم سړی ته ښیء.

تاسی ښه ځیرشیء ادغه لوی خلک او د رتبو او مقامونو خاوندان ټول په رښتیا لوی نه دی او نه ټول و اړه خلك حقیقتاً واړه او کوچنی دی.

اوس مونږ پوهیدلی شو چه په مشرانو کښې کشران او په کشرانو کښې مشران شته.

نو له لری او له ورا په خلکو ته مه گوری ء. او محض آ. مریت او ماموریت په نظر کښې مه نیسیء!

خلك

د وطن او مملکت صادق خدمتگاران له درو غجنو او مظاهره کوونکو نه بیل کړیء او خلك و پیژنیء!

﴿لیك پوهه﴾

رحم وکړه

دتوری کیږدۍ اودډیرورموخاوندہ !

پەدې سره اوتکنده غرمه کښې .

پەدې وچه بیدیا اوسپېره صحرا کښې چه یخی اوبه ، یخ سیوری ، توده ډوډۍ شودې اومستی ، **گوچ اوپیروی ، گورت اوغوړی ، پوڅی اوپنېرونه** هرڅه له تا سره دی .

پەخوارانو اوبې وزلورحم وکړه .

لەمسافرو اولارو یونه خپل خوړونکی سپی ایسار کړه !

هرڅوك چه راځی اوستاد کیږدۍ لەسیوری لاندی کیږی هغه لەخپلو سپیونه ساته او قدرئې کوه !

ای دخروړو سپیو خاوندہ !

ستاد سپیو تاوان لەتارسیږی اوددوی پەضرر باندی تەنیولی ئې !

سپی اونفس دواړه یوشان دی اوهرشی ته خوله اچوی .

ته خپل سپی ونیسه اوپه مونږ رحم وکړه !

ته پخپلو سپیو داگمان مه کوه چه دوی بەهر وخت ستا **د ښمنو او** غلیما ته غاپی .

دوی دیر ځله داسمان ستورو اوسپوږمۍ ته هم غاپی اوستاپه ملگرو اواشنایانوهم بلوسی **اوغوټی وهی** .

آه — هیڅوك زمانارې نه اوری

دخپلو سپیوحملې هم نه وینی .

زماغبز تر کیبز دی نه رسیبزی .

دوی ولی شه نه اوری ؟

ولی شه نه وینی ؟

ولی په چارحم نه کوی ؟

پردی خو به نه وی ؟

کیبز دی خودپښتنو معلومیبزی .

«لیك پوهه»

وښيه څوك دی ؟

اصلی نوم ئې نشم اخستلی مگر رسمی نوم ئې مامور صاحب دی .

په کار نه پوهيږی مگر په خوشامدو او چاپلوسۍ ډېر ښه پوهيږی

دلويو او معتبرينو په مخ کښې دحاضر باش اوخانه سامان کار کوی مگر دخوارانو اوغريبانو سلام هم نه اخلی .

سوادنه لری، په مکتب کښې ئې نه دی لوستی، مدرسه ئې نه ده ليدلی، اخبار او کتاب نشی لوستلی مگر ماموريت کولای اوساتلی شی . په درباری او ضاعو کښې دټولو اوستاد دی مگر انسانيت اوسړيتوب ئې هيڅ نزده .

مکتوب نه شی ليکلی مگر په شطرنج کښې يوسړی دی لياقت نلری مگر ډوډۍ لری .

دخدای طاعت ته ئی ملاماته ده مگر دآمرانو په اطاعت کښې اول لمبر اخلی .

دنيائې ډيره ده مگر همت ئې کم دی .

تنخواه ئې لږه ده اوجايداد ئې ډېر دی .

مسافر اوفقير ته يوه سوی مړۍ نه ورکوی مگر ميلمنو ته هره شپه چرگان حلالوی .

غل نه دی مگر له غلو سره سمه نيمه برخه لری .

ساحر نه دی مگر په يو څو خبرو يې لوی لوی خلك ړانده او کاڼه کړی .

وښيه څوك دی ؟

«ليك پوهه»

د توتکی ځاله

ساړه تېر دی تو دوخی لګید لې ده، ونی غوړېږی، غوټی سپړی، شنېلو په ډاګو او د غرو په لمنو شنه پوړنی غوړ ولی دی.

ګهیځ وختی چه سړی لمانځه ته پا څیږی، نود چوغکو چونهار او د نر یو خوږو وږمو لګیده زړه ته د نوی ژوند اوبه ورکوی.

یوه ورځ د لمانځه نه وروسته خپله کوټه کښی د کټ د پاسه وغځېدم، د ځانه سره اټکل وهم کړ کی او ورونه بېرته دی چه پرشو یوه توتکی راننو ته په کوټه کښی څلور واړه خواو ګرځېده د کوټی دېوالونه اخېړلی او ښوی دی چه د نو کانو نښتو ځای پکښی نشته، نو ډېره پورې پرېده پرېده بیا دوره د پاسه په همدغه ښوی دېوال په څه ډول سره ټینګه شوه نو بیا ئې وزرونه خپاره کړه او په ورو ووته چه می کاته دغه دی بله ملګری ئی د ځانه سره راوسته بیا دواړه په همغه ځای پورې نښتې ناستی وی یو تر بله ئې سره کتل او په خپلو نریوا وخوږو ژبو ئی څه سره ویل دانو ددوی پخپل منځ کښی د ځای د خو ښولو او د کور د جوړولو جرګه ده.

داسی راوبر ېښیده چه جرګه ئی سره سمه را غله دواړو چت چت وکړه وره ته ئی وکاته او ولاړی ووتې له دې نه پسته چه دوی خپلی چارې ته په ګډه څومره کلکی ملاګانې تړی داد هر سړی د پاره بی پوښتنې ښوو نه ده زه ددوی زیارته د زړه په ستر ګو په ځیر ځیر ګورم چه کری ورځ دواړه ځی راځی په ښا یسته ښا یسته مښو کو کښی ختی راوړی او په دغه ښوی دېوال ئې تپی.

ښه نو په دې ښوی دېوال ختې کله نښلی هروارچه راشی نو مښو که په دېوال

کېږ دی اوو رو وروپه ژبه باندی خټه دخو لی ر او باسی چه مښو که تری لری کړی خټه ټاپ شی لاندی راو لوېږی داورته دپا سه ښکته و ګوری اوبیاځی نوره راوړی که دخټې راوړوته دچا یام شی لا به ورته ګوته په غاښ پاتی شی.

د کوم ځایه چه خټه راو ړی نوړومبی ګوری چه خټه مټینه وی شګلنه نه وی او څه وخت چه ئی راوړی نوهماغلته ئی وا غږی چه پخه ئی کړی نو بیا دبوس ډکی ورسره ولړ ی وروسته ئې د کور په ډېوال کښی لګو ی ځکه چه شګلنه اومه اوبې بوسو خټه ټینګېږ ی نه.

زه هرڅه چه کوم خوچه راشم ددوی په سېل اخته یم سړو! په ما با ورمه کوی! په څښتن باور و کړی چه دغه وړ کوټو مرغیو شپږ ورځی په همدغه ډول سره پله پسی زیار و کیښ ولې و نه شوه سره ددی ئې نه زړه ولوېدا و نه ئې ځای پر ېښود او تش په دی خبره چه دغه ځای ته ئی دمینې په ستر ګه کتلی وو چه نوری تو ټکی به راغلې هغوی ته به دواړه یوزړ ه شوی منګولی به ئې ور سر ه لګولی تر هغه به ئی نه پر ېښو دی چه نه به ئې وی ایستلی.

په او ومه ورځ چه دغه ځای دمښو کو په څو کو لږ زیږ او په خټو تېلو څه لوند شوی ؤ نوورو ورو کله غورزېدلی کله نښتی دجالی ړ و مبی پخسه کښېو دی شوه ړ و مبی ئې پکښی هکی واچو لی اوبیا ئی بچی وا ېستل اوپر دغه ګرانه چاره ئی بری ومو ند.

نو کوم وخت چه می دارا په زړ ه شی دبابر باچا او مېږ ی خبره مـی جګه ستر ګوته ودر ېږ ی.

«نوی ژوند»

یو ځنګلی بنی ادم

داسی وایی چه پخوا پخوا چیرته یو ولس ودان ؤ، دا ولس په خپله زمانه کښی ښه یاد او نامتوو، په دې ولس کښې قسم قسم کسبه او سېدل، چا به دهقانی کوله چا به مال ساتلو، چا به جولا ګری، ندا پی، او ځینو به نور نور کارونه کول په دې ولس کې بوسړی داسې هم و، چه دده ګذاره په ښکاروه، ددې ولس په اطرافو کښې چیرته یو لوی بې سرو سامانه ځنګل موجودو، په دې ځنګل کښې هر قسم مرغان او دښکار حیوانات پیدا کېدل، دا ښکاری به اکثره دې ځنګله ته تلو، او هلته به ئې ښکار کاوه او په دغه ښکار به ئې دکاله ګذران چلولو، شپې او ورځې همدغسی تېر ېدلی.

یوه ورځ دښکار په وخت کښې ده ته یو ځنګلی بنی ادم په مخه ورغی ده هڅه وکړه او په څه صورت سره ئې ونیو کلی ته ئې راووست دا خبره په ولس کښې خپره شوه په ټول ولس کښې هاها جوړه شوه چه فلانی، ځنګلی بنی آدم راوستی دی چه سبا به شو نو جو پې جو پې خلك به راتلل او دځنګلی سیل به ئې کاوه.

په دې شان سره ډېرې ورځې تېرې شوې ښکاری دځنګلی په ساتنه او پالنه هم تنګ شو اخر ئې دځانه سره وویل چه دا ځنګلی نه خبرې کوی او نه کار زیاتی می لا تاوان کوی څه ئې کوم پرې به ئې زدم چه درومی.

نو ئې پرېښود، ځنګلی بېرته خپله مخه ونیوه او ځنګل ته ننووت، نور ځنګلیان چه دده په ورکېد و خفه وو دده په راتګ خوشال شوه ټول ورته

راغونډشول ویل ئې: «ښه وشو، چه بیامو ولیدې او په خیر راغلی او پوښتنه ئې ترې وکړه چه وایه په دې دومره موده کښې چه دولسی او مدنی بنیادمانو سره اوسېدې څه دې ولیدل؟..»

ده ورته وویل چه په دوی کښې می سخت کم عقلتوب اولیونتوب ولید اورېدونکو په خورا مینه او شوق ورته وویل چه:

«ښه څنګه» ـ ده ویل:

په دوی کښې خولیونتوب دادی چه په کورنۍ کښې په یوه باندې دمانا، دادا، لالا، تره یا دمشر نوم کېږدی نو بس څه غم او کړ او چه وی ټول دده په سروی ور نراوښځې داوښ په شاسواره، دهرڅه نه بېخبره، شپې او ورځی په خیر وا رو او خوشو خوښیو تېروی هغه ددرنو بارونو لاندې خولې خولې وی او دوی دبېکارۍ دلاسه تمام عمر اوسېلی کوی. «یوئې ګټی او سل ئې څټی» «نوی ژوند»

عملی تعلیم

اور ېدلی می دی چه یو پاچاه دخپل زوی دتعلیم دپاره یو متدین تجربه کار عالم پیدا کړو اودده دآرام اوراحت ټول اسباب ئې راغونډ کړ اوپه مال او دولت ئې ښه خوشحاله کړو، نو دخپلو ستر گرنور (گران زوی) ئې دهغه دڅپېړي لاندی کښېنولو، اوورته ئې وویل :

جناب! دازمازوی دی اوس ئې ستاپه شاگردۍ (نوکرۍ) کښې در کوم چه دې دسلطنت آرزو نیالگی ته دعلم اوادب په باغ کښې داسی پرورش اوپالنه ور کړې چه وروسته دعالم د راحت اواسودگۍ دپاره دمېوې ډکه سایه داره (دسیوری) ونه شی، نوهو ښیار اوحلال نمکه معلم دده په تعلیم اوتربیت کښې لکه څنگه چه بادشاه پوره واك ور کړی ؤ ده هم هغه سی په پراخ زړه په ډېر اخلاص سره هلك ته په لږه موده کښې دمروجه علوموا و فنونو نصاب تمام کړو او دعلمی تعلیم په منځ کښې ئې داهم ورته په علمی شان ورزده کړه چه دمشرانو او کشرانو سره څنگه سوال ځواب په کار دی، په کاله کښې دمور اوپلار خویندو وروڼو او خپلو خپلوانو اود باندې گاونډیانو او عامو خلکو سره څه قسم گذران کول لازم دی اوپه ډله کښې د کېناستلو پاڅېدو اوخبرو کولو څنگه طریقه ده دخلکو توجه اوزړونه خپل ځانته څنگه اړول کیږی اوداسی نور اخلاق اوادب ئې ورته په دې ډول وروښودل چه ړومبی به ئې دیوې خبرې اصول (قواعد) وروښوده، نوبیا به ئې دهغې ډېره موده نگرانی کوله چه هغه به ئې ورباندې عملی کړه نونور به ئې وروښوده حاصل دا چه هلك علماً اوعملا کامل شو، نویوه ورځ استاذ ورته وویل ..... لاړ شه په طبېله کښې و گوره یوښه مست اس زین کړه رائې وله شهزاده

چه‌دا ستاذ په خبره کښې له ادبه (ولې) هم و نه‌ویل نو دستی روان شو آس ئې زین کړی را ووست ، معلم صاحب مترو که په‌لاس کښې واخسته په آس سور شو او شا ګردته‌ئې وویل :

« چه‌زما په‌مخ کښې ځغله » ، نو شهزاده به په‌مخ کښې ځغلېدو او ده به آس ور پسی ځغلولو چه ور نزدې به‌شو نو په‌ور مېږ به‌ئې په‌مترو که‌وواهه‌چه‌زر ځه! هر څو مره به چه هغه ګړندی ځغلېده ده‌به‌هم‌هغو مره‌ور پسی اس جلتاوه او په مترو که به‌ئې بې‌پروا شړقونه وز کول ددې یورې چه‌دشهزاده پښې تنا کې او وجود ئې تغمې تغمې شو او داسی ستړی ستومانه شو چه‌دلاده‌باده‌پر ېووت نو ئې پر ېښود ، شهزاده کورته لاړ او استاذ دخپلی استوګنی ځای ته ، نه‌د ده چا پوښتنه کوله‌چه ولی؟ او نه‌ده چا ته‌حال وایه چه‌دشهزاده‌دمه‌وشوه او دځان دا رو ماروئې هم و کړه نو داستاذ حضور ته‌راغی په‌ادب‌سره‌ئې سلام‌واچا وه او زنګنونه‌ئې ولګول کېناست :

استاذ ورته وویل : « شهزاده پوه شوې » ده‌ویل : نه‌صا حب ! و یل ئې :

« و اوره ! مونږ سپین ږیری یو ، ته‌ځلمی ئې مونږ به نه‌یو ، ته‌به با د شـا ه ما که هرڅومره تاته دعدل ارانصاف ډېر بیانونه کړی دی او دظلم بدې نتیجې می درښودلی دی ، مګر ته‌به‌دځوانۍ او بادشاهۍ په‌نشه مست ئې زما دا ټول نصیحتو نه به‌دې شاته اچولی وی په‌داسی خوارانو مسکینانو چه‌هېڅ کله‌په‌مړه کېډه سکړك نه‌مومی تېری او ظلمونه به کوې ، وهې شړقوې او ځغلوې به‌ئې نونن می درته عملا دروښوده چه‌هغوی هم داسی ځانونه لری ، تکلیف او مصیبت پې تېرېږی او ازارېږی نو داورځ به‌دې ټول عمر یاده وی او په هېچا به ظلم نه کوی .

« نوی ژوند »

احسان

د اخبارو راویان وائی چه کوم وخت سکندر دپښتونخوا ممالك ونیول او دیونان بیرغ ئې دآریانا اوروه په غرونو کښې لوړ کړ نو دلته ئې دامنیت دقیام اوپه سازه زړه سره دحکم چلولو دپاره ډېره موده کوښښو نه وکړه مګر هیڅکله د بغاوتونو او انقلابو څخه فارغ نشو او نه په راتول زړه سره په تخت کیناست په اخره کښې چه نور تول دستورونه بیکاره ثابت شول نو خپل مشهور مدبر او حکیم استاذ ارسطا طالیس ته ئې (چه دسکندر دتولو فتوحاتو راز ده په حکیمانه مشورو او تدبیرونو کښې پټ وه) یو مبسوط خط ولیکلو چه دهغې یوه توته داده:

« ډېره موده وشوه چه په دې ممالکو کښې مادامنیت دقیام او دقانون درائجولو دپاره هرقسم زیار وایست لیکن دې خلکو چه زما په مقابل کښې کومه وسله یورته کړېده هغه ئې نه کښېښوده دلته همیشه جنګ او جګړې او سې او دهرې خوانه بغاوتونه او انقلابونه پورته کېږی داخلك حکم ته هیڅ غاړه نه زدی، زما خپله رایه په دې قایمه شوېده چه په دې عالم کښې یو عام قتل وکړم او دتوری په زور ئې غلی او آرام کړم».

ارسطاطالیس چه دپورته خط په ځواب کښې خپله کومه نظریه لیکلې ده دهغې حاصل لاندی لیکلی کېږی:

«څه رنګه چه زه ددغه ملك په طبیعی وضعیت او فطری آب وهوا باندې فکر کوم، نو دا معلومېږی چه ددغه ملك طبیعی تقاضا داده چه ددې خاورې نه جنګجو، زړه ور، غیور او آزاد یخواه خلك پیدا شوی دی ته دمملکت طبیعی آب هوا نه شی بدلولی، که قتل عام پکښې وکړی داخاوره به بیا همدغه قسم وګړی پیدا کړی او هغوی به ستا ددغه کړو په اثر تاسره لازیات دښمنان شی نو بهتره طریقه داده چه دا حسان په زور ئې قانع کړی ځکه چه د احسان په زور په زړو نو حکومت کاوه شی او دا قوت په توره کښې نشته»

(نوی ژوندون)

د اصلاح لاره

اورېدلی مودی چه د انګلستان پادشاه پنځم جارج د تخت د کېناستلو نه مخ کښی یووخت امیر البحر مقرر شو د هغه ځای قاعده ده چه هر نوی آمر کومی اداری ته ورشی نوړومبی څوورځی خاص د دغه اداری دفتر و نه ګوری علم راولی او وروسته یه کار شروع کوی.

پنځم جارج په دې سلسله کښی کوم وخت چه د ما مورینو د سوانحو دفتر ګوری، د یوه سړی د سوانحو پاڼی ئې ولوستلې چه پخوا څومره آمران په هغه تېر شوی وو ټولو په سرو قلمونو په دغه پاڼه کښی د دغه شخص بېکاری او بد اخلاقی لیکلی وه.

امیر البحر جارج دغه سړی راوغوښت او دده د سوانحو پاڼې ئی ورښکاره کړې، چه دغه دی ستا آمیرینو ستا په باب دا، دا یاداشتونه پرېښی دی مګر زه نه غواړم چه ستا د سوانحو پاڼی په بدعمل ډکې وی. زه غواړم چه ته یو کاری او اخلاقي سړی شی دغه دی چه زه ستا په مخ کښی ستا د سوانحو پخوانۍ لائحه شکوم، دده د سوانحو لائحه ئې وشکوله دریاب ته ئې واچوله د دې ورځې نه وروسته ستا سوانح بیا د سره څخه لیکل کیږی اوس ته پوره اختیار لرې چه د خپلو سوانحو په لائحه کې د هرشی په لیکلو راضی اوسی هغه به ولیکل شی وائی چه د دی واقعی څخه د دغه سړی په حیات داسی عمیق اثر ولوېد چه تر دی وروسته هغه بیخی بل سړی شو او ښه ښه خدمتونه ئی دلاسه وشوه

ویده مشوم

مازیگر لمر په غړغړ دی دانګړ به منځ کښی د ګلانو د کیار یو په غاړه وړ و کی ماشوم په لوبو بوخت دی په لمن کښې خاورې اخلی له یوه ځا یه ئې بل ځای ته وړی او هلته ئی غونډوی مور د کاله په کار اخته ده په ډېره بیړه لګیاده کا لی سنبا لوی ځکه چه ماښام دی او وخت ناوخته دی .

د کار په منځ کښی ئی چه پام شی نو غږ کړی چه زړه ګیه څه کوې! راځه ناوخته دی هله جار دې شم !!!

ماشوم په خپله نیمکۍ او خوږه ژبه وائی «ډوډ وپکه کم!» مور: څه کوی؟! «ماشوم ډوډ وپکه کم!» یعنی «ډوډۍ پخوم» مور د کاله په کار و بوخته او ماشوم په خپلو لوبو وړې وړې مرغۍ چه په کیار یو کښی ئی ټوپونه وهل خوشحاله خوشحاله او جلتی جلتی ګرځیدې یوه یوه والوته او ټولی خپلو بچیو او ځالوته لاړې وخت تیر ېږی، لمر ولوېد، له ښکې تیاره راپورته او دځمکی په مخ راخوره شوه د اسمان په شنه او نامحدوده فضا کښی ځای په ځای ستوری راښکاره شول .

مور چه د کار نه خلاصه شوه د ځانه سره ئی وویل آه ماښام دې ترغونی شوه بچی می هلته لوبې کوی ! آه ز ماهیر شوی دی .

ورغله چه ګوری : ما شوم د خاورو نه وړې وړې او پلنې پلنې ډ وپکنۍ جوړې کړی دی .

خړپړ پروت دی ستړی شویدی په خاورو کښی ئې سرایښی دی او د خوب

دقاصدانو لاس ته‌ئې ځان سپارلی دی !!!

دماښام په‌خړه تیاره کښې مورد خپل ماشوم سرته ولاړه ده زړه ئې د یو عالم ترحم اورقت نه‌ډك دی‌اوچرت وړی ده :

هو ! دژوندانه مثال همدادی !

مونږ په‌خپل‌ژوند کښې همدغسی په خاورو لوبی کوو !

په‌دغه لوبو اخته‌اوسو چه‌دمرګ دژوند خوب په‌مونږ خپل‌چپاوراوړی اوبل عالم‌ته موبوزی !!!

مګر-آه- څومره خوږې دی دالوبې !

اوڅومره خوندور دی دا خوب چه په خپله خوښه او ازادۍ سره وی !!!

حقیقی غل

په‌رڼا ورځ ئې دډېرو خلکو په مخکښې ډېر څه‌له مونږ نه پټ کړه . ستا

خوښه چه غل ور ته وائې که نه !

زه‌خو ئې غل بو لم .

هو ! غل دی مګر دپو لیسانو په نظر کښې نه .

ددې غله لاس قاضی او مفتی نه پر ېکو ی .

هېڅوك داغل نه نیسی او نه‌ئی بندی کو ی .

ددې غله په زېره خلی نشته .

ده ډېر څه له مونږ نه پټ کړی دی اوډېر زیان ئې را اړ ولی د ی ده له

مونږ نه سره اوسپین نه‌دی پټ کړ ی .

دی ډېر لوی غل دی .

دده غلاډېره‌لویه او ستره غلا ده .

دی مال نه‌پټو ی .

دده غلا ته‌په‌عادی نظر مه ګوری‌ء !

دی‌ز مونږ پیسې نه پټو ی

ده‌ته دمال اودپیسو غل نه‌شو ویلا ی

دی نور څه پټوی اوډ یر مهم څه پټو ی .

دی له‌مونږ نه‌خپل ځان اوخپل بدبد کارونه پټوی .

دی خپل حقیقت اوما هیت پټوی .

خپله غلا او خیا نتو نه پټوی .

ځان پټول اوحقیقت پټول ډ ېر لویه او ستره غلا ده دا غلا دیوه ملت او مملکت کورو رانوی او ملکونه بربا دو ی

داغل ستر گی پټو ی :

په ستر گو ننو زی .

له‌ستر گو او ستر گورو سره دښمنی لر ی

هو !دا غل له ستر گونه رانجه نه پټوی ستر گی پټوی دی له مونږ نه ډ ېر حقا یق پټوی اود حقیقت‌غل دی ده ته باید حقیقی غل ووایو .

۱۳۲۸ کابل مجله دحوت اول «الفت»

(د ۳۲ مخ پاته)

مینی او علاقې یو مثال په ۱۹۴۸ ع کال کښې موندلی شی یعنی په هغه وخت کښې چه پښتنو د کشمیر په جنګ کښې ګډون وکړ، دوی په بل ملك کښې دډېری مودې پوری داوسېدلو د پاره حاضر ېدلی شول مګر دوی دې کار ته حاضر نه شول چه خپل مړی د کشمیر په خاوره کی پرېږدی او همدعه د وطن مینه وه چه دوی ئی ودېته اړ کړل چه خپل ټول مړی ئی خپل وطن ته راوړل او پخپله خاوره کښې ئې ښخ کړل.

(٦) که پښتانه دخپلی خاوری څخه دباندی په بل ملك کښې آباد کړی شی نو دغه کار دډوی په ژوندانه باندی کوم اسرنشی عورځولی، برطانیا هم دا ډول ناکام کوښښ وکړ چه پښتانه په پنجاب کښې آباد کړی او دوی ته په پنجاب کښې ځمکی ورکړی ځینو خلکو اوس هم حکومت ته داتجویز وړاندی کړی دی مګر حکومت باید دعه تجربه بیا دوباره تکرار نه کړی.

پښتون او افغانستان:

دځینو خلکو په مغزو کی دا غلطه مفکوره پیدا شوېده چه ددی ملك پښتنو چه دپښتونستان کوم تحریك شروع کړیدی دغه تحریك دافغانستان سره څه ناڅه تعلق لری او یا داچه ددې تحریك مطلب دپښتنو دملك په افغانستان کښې داخلول دی او دا هم ویل کیږی چه دپښتونستان څخه مطلب دپاکستان څخه دیوجلا او آزاد حکومت قیام او جوړول دی.

زه په ټول او پوره مسئولیت ددې خبری اعلان کول غواړم چه دا خبرې غلطی او بی معنی خبری دی، ډیر پښتانه له دی خپل موجوده حالت څخه مطمئن نه دی او باید مطمئن هم نه وی.

د کابل مجلی خپرونې

۱ : لوړ خیالونه او ژور فکرونه د گل پاچا الفت اثر د هر جلد بیه (۸) افغانۍ .

۲ : د اور لمبې د شاغلی خیبری اثر هر جلد په (۵) افغانۍ .

۳- پښتانه داقبال په نظر کی د ښاغلی عبدالله بختانی تالیف .. یو جلد په (۷) افغانۍ دادری واړه کتابونه سبز کال تازه چاپ شوی دی او د پښتو ټولنی به پلورنځی کښی موجود دی .

د یوه کال بیه

په کابل کښی (۴۰) افغانۍ

په دننه هیواد کښی (۴۴) افغانۍ

زده کوونکو ته په نیمه بیه

په هند کښی (۲) کلداري

په باندنیو هیوادو کښی (۳) ډالره

دا بیه د پښتو ټولنی د موسسې د جاری شمېر په (۷۱۸۷) لمبر دافغانستان بانك هروخت اخستی شی.

نوت: دلمړۍ پشتۍ منظره د کابل دزاړه ښار د کوټوالۍ کومبذه ده چه اوس د پښتونستان واټ پرجوړ شوی دی .

د پښتو ټولنی له خوا

دهېواد رسمی او ملی اداري غواړی چه خپل غیر پښتنی نومونه په پښتو واړوی او په دغه باب کښی طبعاً پښتو ټولنی ته رجوع کوی د دې دپاره چه د دغسې نومونو ایښودل دروند او مهم کار دی له خپلو ښاغلو لوستونکو څخه هیله لرو چه د رسمی القابو او عنوانو په باب ښه فکر وکړی او هر پښتو نوم چه دوی ته د یوه بل نامه په مقابل کښی ښه ښکاری مونږ ته را واستوی دا کارزمونږ په نظر کښی یوه ښه مرسته معلومېږی او له مونږ سره دا کومک کوی چه عمومی ذوق او فکر ته نزدې نومونه انتخاب کړو. پدې را لېږلو نومونو کښی که څه د نشر وړوی داستوونکی د نظر یې او پیشنهاد په ډول به ئی نشر کړو چه د پښتو ټولنې د مسلکی مجالسو د پاره د نومونو ایښودلو په باب څه ذخیره راغونډه شی.

دولتی مطبعه